Ketabton.com

# له ماښامه تر ماښامه

## دشعرونو مجموعه

پیرمحمد کاروان

PROPERTY OF
ACKU
4382

## دکتاب پېژندنه

- دکتاب نوم : له ماښامه تر ماښامه
- شاعر : پیر محمد کاروان .
- خپروونکی : دآزاد افغانستان دلیکوالو ټولنه « وفا »
- چاپ او صحافي : تاپ پرنترزپېښور
- کمپوزر : عبدالحی سحر
- لومړی چاپ : د ۱۳۷۱ هـ.ش دسنبلې میاشت ۱۹۹۲ع اگست
- شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه
- نمبر : ( ۶۹- ۷۰ )


له ښاغلي عبدالحی سحر نه یوه دنیا مننه چې زما شعرونه یې په نازکــو او هنر مندوگوتو دکمپیوتر له پیچلي مغز نه راوایستل اوکتابي شکل یې ورکړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اهداء:

دهغوی په نوم چې دخدای

له خلیفه (انسان)

سره مینه لري.

بسم الله الرحمن الرحيم

# دماښامونو دمهال

## یو «کاروان»

ښایي زموږ سر نوشت به له تیاروسره تړل شوی وي ، موږ په تیاروکې زېږېدلي ، په تیارو کې اوسېد لي او په تیارو کې فناشوي نسلونه یو . دادی موږاوس په یو داسې دوران کې ژوند کوو چې دژوند(۱) په نوم هر مهال مو یو ماښام دی . زموږ د دوران شاعر هم د تیارو ،دماښامونودمهالونو شاعر دی . زموږشاعر که ربښتیا وایي نود دغو تیارو په هکله به غږېږي ، سهارونه لازموږ لپاره نالیدلي . امیدونه دي .

اوس له بل هر وخت ښخه ، زموږ اولس ، زموږ دهیواد نوي نسلونه ، له ماښامونو سره بلدتیاته اړکېږي . زه خو داسې ګڼم چې ګران شاعر پیرمحمد کاروان به دخپل شعري دفتر نوم له همدې کبله له ماښامه پیل کړی او پرماښام پای ته رسولی وي .

پیر محمد کاروان زموږ دځوان شعرهغه وینا وال دی چې پروطن دخورو تیارو ، دخوروماښامونو په وړاندې دمقاومت په بهیر کې یې هم خپل شعر ځلولی ، دتیارو دلحظو شاهد شاعر هم پاتې شوی دی او دخیال د رنګینیوپه تالونو کې یې هم خپل شعرونه زنګولي دي .

کاروان دمقاومت دکاروان یوه داسې ځوانه څېره ده چې دافغانانو د وياړلي مقاومت ډېروشیبوته یې شاعرانه روح ورکړی دی . په دغه بهیر کې که دشعري او ادبي ارزښتونو پېرښنسټ خبرې کوو نوکاروان یې د ګوتو دشمیر په لوړنیو کسانو کې شمېرل په کاردي .

«له ماښامه تر ماښامه » دپیر محمد کاروان د شعرلوړنۍ چاپي مجموعه ده . په دغه مجموعه کې دهغه د ادبي ژوند د پیل او دراوروستنیو ګلونو شعرونه راغلي دي . موږ د دغو شعرونود نیټو دښودلوله مخې ، په لږه موده کې دهغه دشاعرانه یون دځلا او پرمختګ ډېره ښه ننداره کولای شو . په دغه مجموعه کې دغزل او آزاد شعر ګڼې نمونې خوندي شوې دي او حقیقت دادی چې په دغو دواړوشعري ډولونو کې دهغه شاعرانه تخیل ، نویوتر کیبونو اوشعري دقت ننداري ته تم کیدلای شو .دغه راز یې

په دې مجموعه کې له زړې عنعنې سره سم ځو نظمونه هم یوځای کړي دي .

دکاروان غزلې دپښتو نوي غزل له ډېرو ښکلو بیلګوڅخه شمیرلی شو . د دې مجموعې ډېرې غزلې به زماددې خبرې درښتینتوب لپاره تاسوولولئ .خو دغه ځویې دنمونې په توګه وګورئ :

خدایه دګل کـډې یې قـــدم قدم کــې واړوه
ستړی شو کاروان دښاپیــــــرو ارم کې واړوه
ښکلو ته مې واوروه چې شمعوغوندې ویلې شي
زه دسو زغزل یم ما پـــه زیــــروبم کې واړوه
مانه غلو اغزیو دتــــــناکــــوینې پتهې کړې
اوس مې لوټ کاروان د پسرلو حرم کې واړوه

یاداچې :

ګلونه سوي دي اغزي ښکـــلوم
خزان ځپلي پــــــسرلي ښکلـوم
زه دساقې دمیونه یم عـــــادت
دافغاني ګودر منـــګي ښکـــلوم
نادان کاروان به یې غزل ګڼي خو
د زړه په وینـــو آزادي ښکلـوم

دکاروان په آزاده شاعرۍ کې هم موږګڼې خوبې لیدلای شو . د دغو شعرونوپه لړکې یې «قافله » دتمثیلي او تصویري شعر یوه ډېره په زړه پورې نمونه ده او «درې څاځکي وینه »، «ته ...     » ، «دپربښتې خوب » ، «څلورتوتکې»، «تعبیر ؟» «له وینوترموسکا » او داسې نور یې دنمونه یې آزاد پښتوشعرپه لړکې وړاندې کولی شو .

دهغه په شاعرۍ کې دنوي بیان ، نویو مفاهیمو او ترکیبونو او دیو ډول نوي خیال زیات ځرکونه وینو . تا سوزموږ دوطن له حالاتوسره سم دکاروان دیوې غزلې

مطلع وګورئ :

لاله په يوه پښه دي ولاړ د دامانونوپه سر
لکه چې پيغلې وي ختلي دماينونو په سر

يا :

ستن مي کړ قلم تاريې غـــــزل غزل
شوم دليونـــــيو په ګريـــوان مين
زړه دې رانه يو وړاوجـــــرس دې کړ
ښکليه اوس به خود شي په کاروان مين

ديو ازاد شعريوه برخه ده :

*... په کې چاودلي حبابونه دي دژوبلو هيلو*
*دبڼو ګانو په تار*
*ترې راوباسم سلواغې داوښکو*
*زما داوښکو په دې هره سلواغه کې راڅي*
*دښکلي ياردېدن ته*
*دناکراروتلو سودپر هرونو وينې ...*

دداسې ښايست ترڅنګ ، دکاروان په شاعرۍ کې دګوتو اينبودلوځايونه هم شته په تيره بيا دهغه دشعري يون دپيل په شعرونو کې به ځينې نيمګړتياوې هم وويني .
کله کله داسې عادي او شعاري خبرې هم ښايي ولولئ :

دجنګونو په دوزخ کې جنتي افغانان وسول
دباروتو سر ولمبو کې سپين دسولې مرغان وسول
زماني له خوبه پاڅه ، دوجدان غږ ونه واوره
دنيه کوم عدل انصاف دی، چې حقوق دانسان وسول

او يا ښايي کله کله زموږ دکلاسيکې شاعرۍ له عنعنې نه په تقليديوه نيمه غزله په کې ولولو.لکه :

ساقي سوي لوي زړه ته لــــــــر ارام را
چې تش کړی مې یوجام نه وي بل جام را
ستا دزلفو پیچ وخم کې په ځوګیریم
یورنګین غوندي سحر د دې ماښـام را
څو به ستړی لالهانده کاروان ګــرځي
سرمنزل دخوږې مینې په یو ګا م را

دغه راز د «سیندوکي » په نوم شعر . د غني دشګود محل له هغه مشهور شعرسره یوځه ورته والی لري ،زه نه وایم چې تری تقلید شوی دی،ځکه کاروان یو لږ جلا خبرې لري خودشعر کلي فضا یې یوځه ترې اغیزمنه ده .

کاروان ، دافغانستان په معاصر شعرکې دمقاومت دشاعری ډیرې ښکلې نمونې ایجاد کړې او پښتو شاعری ته یې بخښلې دي . د کاروان شاعري ، دافغانانو دخوارلس کلنو را روانو غمیزو (تراژیدیو ) ډیره صادقه شاهده او انځور وونکې شاعري ده. دهغه په شاعری کې دکلیو ، باندو او غریبزو کاروانونو صمیمیت او درنښت پروت دی .

لکه چې دغه صمیمي شاعرتل امید کوي ، له دغو هیلو سره چې دتورتم له لړو لړ ور اخوا شو اونورمو نو راتلونکې نسلونه ، راتلونکي شاعران یوازې د تورتم شاهدان نه وي ، او سهارونه تش امیدونه نه وي .

زرین انځور

پیښور

د ۱۳۷۱هـ ش

د اسد ۲۸

په بدمرغه شیبو کې

دافغانستان دخپلواکۍ په نیك مرغه ورځ

# عشق او جمال

زه خوراتلم نه تاراو لېږلم
له خوشبو يې نه ډك دسمال دې راكړ
ددسمال څنډې ته دې غوټه وركړه
ځواب يې تاسره و، سوال دې راكړ

تامې په زړه كې تنده وكړله
په كې راشنه شول دخمار گلونه
ساقي دې راوړې ډكې ډكې پيالې
چې په كې وتومبې كتار گلونه

تندې مې مات د اضطراب په كاڼو
څم له زگېرويو نه كورگۍ جوړم
سرلگومه دسكون په ځنگون
له پرهرونو پسرلى جوړوم

شاړه د ژوند غواړې ابشاردنغمو
دروح دسمال چې په كې ومينځمه
پرېږده چې غوټه يې راوسپړمه
عشق اوجمال چې په كې ومينځمه

خيبر پلازه پېښور ۱۱ / ۲ / ۱۹۹۲

# دعشق سرود

ماته د روح له منـارې دعشق سرود راځـي
په عاصي ژبه ستائـنا ، راځي درود راځـي
وروخدایا نوسره ، وې ، راځيء چې ښه یې مات کړو
یاغي تندی دی دابه چاته په سجـود راځي ؟
بتان مات شوي دایـازد زلفـوورېم راځـي
سترګې مـــوږختې چې ګله به محمود راځـي ؟
مورد سپرلوپه غبرګې ښه خوبونه کړي نه دي
لاپه ګلپا ټوکې سـکروتې دنمرود راځـي
ستاد دیدن هرې ښکالوته یې څپې وهلې
کاروان دسترګومې په دښته دوجود راځـي

۱۳۷۰/۱/۱۱

# ښاغلی لیونتوب

مه ژاړه بلبله عبادت به په نغمو کوو
ذکر دګلونو به د پرخو په تسپـــوکوو
لمونځ به دسحر کوو او خوب به دغرمو کوو
تل به صفتونه د رخسار او دبارخوکوو
زړونه به ذرې ذرې دلمر په غېږ کې وشیندو
پټ به دیدنونه دسپوږمۍ په سپینو شپوکوو
غوټۍ دې کړې ژبې راته مینه خو غوټېږي نه
یو جهان خبرې به په سترګو په لیمـــــو کوو
څوبه په اغزیو کې دردونه هم نشه لـــري
مست خماري خوب به دغوټو په بالښتوکوو
څو دیار کوڅوته چې داسترګې په کې ټخلي کړو
دې خپلو کعبو کې دیدنونه د سجدو کوو
لوټ دې شي کاروان خو بیابان به کړو غاټول غاټول
عشقه له ښاغلي لیونتوب سره پښتو کوو

پېښور، دلیکوالو ټولنه ۲۱/ ۲/ ۱۳۷۱

اهداء: زخمي کابل ته،دښاپيرو ،وطن ته

## تعبير ؟

دغرځنی تیونه

په پولادي غشو سوري سوري دي

سوي زګېروي يې څه نري نري دي

او دتنکو ، تنکو کبليو خولګی

په تکو تورو لوغړنووينو تکې سرې دي

چاورشيندلې په ملالو سترګو

له سرو سپرغو ډکې تودې ايرې دي

په غټو اوښکو کې يې سره رنګونه

لکه دماتوآيينو په زړه کې

دسرو لمبو عکسونه

دغرځنی په سترګو

ګردې تاوېږي د پړانګانو سترګې

نه شي په ځان پسې راښکلی تښتيدلې غوړګې

خيال يې په زړه باندې نوکارې او پنجې وروي

په زخمي ذهن يې تېره تېره سيخونه ګرځي

په سرو بوټيو اوهډوکو يې تبرونه ناځي

په تصوريې د وريتو غوښو بويونه ګرځي

څوك څه پوهيږي چې تعبير يې څه دی ؟

بېګا کابل داسې يو خوب ليدلی

پښنور ۷۱/۱/۲۷

# دشمعو کرونده

تنده د دیدن مې په لیمو لیمو کې ونغاړه
راشه داد ژوند ماښام په دوو ډیووکې ونغاړه
سوې کرونده به بیا راشین دشمعو فصل کړي
روح د پتنګانو په لمدو ایروکې ونغاړه
غوڅ زړګی مې وګنډه سرخي ستا دښکلایمه
پټ مې دموسکا غوندې په سروبار خوکې ونغاړه
ښکلی پسرلی راته اشنا په جرګه راوله
ما خزان ځپلی په تنکو غوټو کې ونغاړه
راشه د ارم دښاپیرو قاصد ه یویې سه
غوټه دشوګیر مې په پستو وړمو کې ونغاړه
وړه مې چې ساحل دپیغلتوب په غیږکې ونیسم
عشقه دریابې ما په یاغي څپو کې ونغاړه
بیاد رابعې په وینو سرو غنچو ته کړي سلام
دا منجاورخیال مې دسخي جنډوکې ونغاړه
ستاکاروان ، دوینو په زعفرانو غزل ولیکه
دا تاویز دمیني په ځونډو ځونډو کې ونغاړه

پښتورحوت ۱۳۷۰

## انتظار

داوښکوپرخــــــه مې بې گــلـه راځـــي
زمـا دگـل کـلـېدي بـه کـلـــه راځـــي
تـشې جونـگـړې مې دســـترگــوپــاتـــي
ورتـه بـــه کـلـه ډیـوه بلـــه راځـــي
بې تـــانه مـــرارمـان مـــي غـږنـه کـوي
که مسیـحا ورتــه څـوځــلـه راځـــي
زه یـــي دیــاردلاســـه زړیــــولــــه
که مـات کـچکول ته مې خــــزلـه راځي
مـــا په زړگـــي کـــې ورتـــه ځـاله جـوړه
خوکـه په ناز ورتـــه بلبــــلـه راځـــي
د دارکـــــړۍ کې جــوتې څومـــره خوند کـا
چـې ننــــداري تــــه یاریه خپـــلـه راځي
زه به لــــه تــنـدي زاره چــاودي وَمــه
دساقي لاس کې بـه جـــام هــله راځـــي
جرس بـه ډیـــر په چـــیغوورړیــــــړي
سترې کاروان چې ترمنزله لــــــه راځـــي

۱۳ /۳ /۱۳٦۵ دنریزي کلی

# د سحرپه لوري

دګم نامې خلوت کې غلی ناست وم
لکه دغم او د ويرونو ماښام
زماپه تن وتورلباس دماتم
بلې مې وې داوښکو تتې ډيوې
لکه چې ښکلې ستورې
په نرۍ وريځ کې وي پټ
دانتظاراغزي مې سترګو کې راتلل ماتېدل
ماسته دميني ترانې ويلې
په وينوسرې ترانې
په ترمو اوښکو کې لمدې ترانې
خوچې ناڅاپه مې سرپورته کړلو
دځنګانه له ستنو
اي زما ميني بيا مې ته وليدې
لکه شفق په سره سالوکې پټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سرکو شونډودې موسکا خوره وه
زما په اوښکو کې دنورپه شانې وځلېده
راغلې په سرولاسودې پورته کړمه
په تنکو ګوتودې زما اوښکې را پاکې کړلې
په تورپټکي کې دې راوتومېل دستوروګلان
او دواړه لاس په لاس روان شو دسحرپه لوري

۱۹/ ۱۰/ ۱۳٦٤تنې

# ترږی

دمـــود وتږی درتــه راغلم تــا سخاونه کـــړه
ساقي مستانه هېـڅ پېـــرزو دې په گـــداونه کړه
ستا په درشل کې مې تندی ډېرو سجدو کړوستړی
ماستا دحســن پرستـــش کړ تا پروا ونـــه کړه
زما دسترگو په زيـــارت کې بلــــېدلي ډيوې
مغروره تا خوتش په شـــونډوکې دعـــاونه کړه
ته دخپل حسن له نشـــو نه راوزگـــاره نه شوې
هېڅ دې زما خيري گرېـوان پورې خنـدا ونه کړه
دزړه ساحـــل مې ستا دمينې سمندرتـــه ايښې
خو تا دوج کـکړ ساحل په لـــور گډاونـــه کـړه
يتيمې هيلې به يتــيمې وړم دگور غـــېږې تـــه
مهربـــانې خـوږــــه يتيمو هيلوتـــاونه کړه
لکه دشمعې سره اور شنه شې له لمبودې زار شـم
کاروان دګوريت لکه پتنګ کړ تاژړاونه کـــړه

تنې، د نريزې د کلې غرونه ۱۳٦٤

# د پسرلي توتکۍ

په سپینو اوروکي موسکي شول زرزري گلونه
دښکلي لمرد پلوشوگلونه
لکه چې پېغلي وي تومبلي دمرجانوغمي
دسپین ټکري د پاسه
د پسرلي ورمې د ژمي غېږکې وغځېدې
په مرغبجنونه هیلوراغی مسیح
وحشي گلونوشنې جامې واغوستې
دمالیارانومحتاجي نه کوي
زموږجونگړې ته هم راغلې ښایسته توتکۍ
جوړه جوړه توتکۍ
لکه چې راشي دفردوس له غېږې
دمعشوقې اودعاشق روحونه
زموږانگړکې یې اتڼ واچاوه
اوپه غېج غېج کې یې دژوند ترانې وویلې
رنځوري مورمې ورته څه په مینه مینه ووې
«توتکۍ ستړې مه شې ستړې مه شې»
توتکۍ خلاصې کړې منبوکې اوغېج غېج یې وکړ
څه په خندا یې ورته ووې چې ژوندۍ اوسې
زما دزړه په تالاشوي باغ کې وتبوکېدل
دامیدونوگلان

۱۳۶٤/۱۲/٦ تنې، دتریزي کلی

# لېونۍ سندرې

ماوې چې مړ و ته به زه وایمه ژوندۍ سندرې

خووخت مې نه پرېږدي په زړه دنېکمرغۍ سندرې

مايې داوښکو په شبنم خوبونه وتښتول

ګلونه ګونګ دي وايي نه پسرلنۍ سندرې

یه لېونۍ زمانې ! لږ څه خو په خودشه که نه

روغې سندرې مې چې بولې لېونۍ سندرې

که دلته هلته مې په کاڼو ککرۍ ماتوي

وینې مې وايي په خندا د ازادۍ سندرې

چې دمغرور په زړه داورپه څپرلګېږي نوزما څه قصور

زه خو په زړونولګوم لکه پټۍ سندرې

چې يې د زړه غوړوونه نه وي تش دسر په غوږو

اوریدای نه شي زما مستې غرنۍ سندرې

دا د کاروان د زړه په وينو کې راوزېږېدې

چې په کاغذ يې کړې خپرې دلۍ دلۍ سندرې

۱۳۶۵/۱/۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اوښکو ديوې

دجنگـونو په دوزخ کې ، جنتــي افغانان وســول
د باروتوسرولمبو کې ، سپيـن دسولې مرغان وسول
خزان او ر په بهار بل کړ، د ژوندون گلونه وچ شول
اواره نغمې ايـرې شوې، مهاجر بلـبلان وسول
د باروتو ښامارانـو، اسو بلـوکې لمبې پـو کړې
دجونگړو ډ يوې مړې شوې ، د رڼا پتـنگان وسول
قافلې ستړې ستومانه ، د ژوندون په پيـچ وخم کې
لارې پټې په سکـروټو ، د وفا قاصـدان وسـول
هرارمان شـوژوبل ژوبـل ، ډېرې هيلې هــديرې شــوې
درڼواوښکو ډيـور کې دســرووينو گلان وســـول
شوگيرې اوږدې اوږدې شوې، شپه دغم په تيارو پټه
دسبا ستورې بربېښ نه کړې ،دسپېدو په گرېوان وسول
په نغمو کې کړيکې کړيکې، ويرپه زيرو بم کې خپوردې
پر دېسيان له ډېرې مينې ، دوطن په ارمان وسول

(c) ketabton.com: The Digital Library



دموودمودو یارانـــو، یودبل دیدن ونـــه کړ
دوصـال په تمه تمه ، په لمبـو د هجران وســول
دزړه کب په وچه پروت دی، دوصال سمندر څه شو ؟
دسرو وینو سره ګو هریې، بس په یاد دجانان وسول
دګولیو باران اوري، لاله ترمې ترمې پـروت دی
خپلې پاڼې یې سپر غیږشوې، هغـه سره ارغوان وسول
هسې نه چې سریې لوخ شي ، د ابشیا دښکلې ناوې
وینم خوب اوکه په اوریې ، سره ټکري دالوان وسول
زمانې له خو به پاڅه ، دوجدان غږونــــه واوره
دغه کوم عدل انصاف دی، چې حقوق دانسان وسول
افـغاني جرس فریاد کړي، ځې کاروان دشهیدانو
نورڅوک نه دي دلته هلته ، دیوې موربچیان وسول

۱۳۶۵/۱۲/۱۲ تنهې

# د غزل په څنګکې

د غزل څنګکې ګلونه ږدمه
پښتون ماښام ته مشالونه ږدمه

د توروشپوشیبو اوږدې به نه شيء
لمروې په سریې سهارونه ږدمه

مینې له زړه نه مې پټه کړه لرې
یارته دسرووینوخالونه ږدمه

د ژوند څولۍ مې ډکوم له ګلو
څم په اغزوکې قدمونه ږدمه

که په مرۍ مې یوه سلګۍ وې پاتې
لا به په ژبه ستا نومونه ږدمه

ساقي زما په تنده مه څوربږه
زه نورو ترږوته جامونه ږدمه

عشق مې په دار کې سرته داسې ویل
په تا دحسن امېلونه ږدمه

لاله تصویرېږي په سینه لګوه
په لوغړن څیګر دا غونه ږدمه

راڅه کاروانه دتیارو په زړه کې
زه درته شمعې کتارونه ږدمه

سرطان ١٣٦٥

# گمنام شاعر

څو مره چې لوېدلی له نظر د زمــانــويمه

دومره جګ ختلی دغـزل په مناريمه

لږخومې داروڼ زړګی دزړه په سترګو وګوریء

لال يم خوله سترګو نه پټ شوی پـه ايرويمه

حسنه لږموسکی شه چې پانوس مې شي په اوښـکو جوړ

هسې نه ايره شم وريت دعـشق په سرولمبويمه

وخت يمه داغلی خوهرداغ مې له خندا نه شين

پټ په تصـورکې دلاله پــه لــوپټو يمه

نه مې شي ليدلای پتنــګان په محلونوکې

څراغ ديتيـــــمانودجونګړودتيـــارويمه

څومره چې غزل مې په سرووينولمبېدلي دي

دومره ژوبل ژوبل دجــفا په کتهـاريمه

نه درځم باغوانه دمنت ګلان دې نه غــواړم

زه آزاد بلبل دځګو غرود ســـرد رويمه

مړمې کړه مرګيه خونغمې به مې ژوندۍ وي تل

زه خو يوکاروان دتــرانو اود نغـمـويمه

١٣٦٥/٤

# غرڅنی ګل

غرڅنی ګل یم غرڅنوته خاندم
اوبېرسرولېونوته خاندم
اوسېږم لرې د دنیاله سترګو
وختونوپټ کړم دهرچاله سترګو
دلوړوغرونوپه لمن کې اوسم
دخپلووینوپه کفن کې اوسم
ډیوې مې بلې دشبنم په پانوس
رانه چاپېروي دبلبلوجلوس
خاندم دمینې ترانوته خاندم
اوبېرسرزولېونوته خاندم
وایي ابشارراته دمینې نغمې
خوب ته مې یوسي دځنګل زمزمې
سپوږمۍ مې مخ پټ کړي دوړانګوپه شال
نسیم مې وزنګوي ورووروپه تهال
سحرمې مخ مینځي د پرخې په مېـ
غلې راویښ شم دشپونکې په شپېلۍ
دلمرزرینود ردانوته خاندم
اوبېرسرولېونوته خاندم
غرنۍ پېغله راته غلې ګوري

په ښکلوسترګوراته ښکلې ګوري
په تورپېکي کې مې ټومبلی نه شي
تهمت دمينې په ځان ورلی نه شي
مخکې قدم اخلي په شاه راګوري
زما دپاڼو په شان زړه يې ښوري
زه يې دسترګوائينوته خاندم
اوبېرسرولپونوته خاندم
دشپې له دېونه تښتېدلی نه يم
دخواړه بوی په ژبه غلی نه يم
که په پنجوکې دلپوانو شمه
ژوبل په شان دغزالانو شمه
بوی به مې ځمکې نه آسمان ته رسي
رنګ به مې حسن دجانان ته رسي
څوچې ژوندون‌وي زمانو ته خاندم
اوبېرسرولپونوته خاندم
سپېره خزان که ريژولی يمه
مړ نه يم بيا راټوکېدلی يمه
ديوه ګم نام شاعرداستان يمه زه
که نن يم پټ سبا عيان يمه زه
دګلوميربه ګلستان ته شمه
مشعل دلارې به کاروان ته شمه
دکاروانيانو ارمانوته خاندم
اوبېرسرو لپونوته خاندم

تنې د چورکونډي ځنګل لمن ، اسد ۱۳۶۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# داوښکوګلونه

ماوې چې ښکلي پسرلي راشي
د انتظار ځای به وصال ونيسي
ماوې چې ستا به هم زړه تنګ په محلونوکې شي
ای دبهاردښکلاګانورنګينوپرښتې !
ماوې چې ته به خامخاراشې
دپسرلي درنګينواودخوشبوپه منځ کې
دموسکانوربه په ګلونواوغوټووشيندې
زما دسترګوبه تياره ځنګل به
دخنداګانودېوې و ورو ې
ماستا د غاړې د ښکلا په خاطر
دښوګانو په هرتاروپييل
دښکلو اوښکوښکلې ښکلي ګلان

ماوې چې راشې ستا په غاړه به يې وځړوم
دغه زما دپاکې مينې يوه پاکه ډالۍ
خوته رانغلې
زما داوښکوګلان ورژېدل
دګرېوانه په دښته و ورېدل
احساس مې ونيوه په ګوتوکې دمينې شهباز
دزړه په تارتارېې نغمې خورې کړې
دښکلو اوښکو دګلونو نغمې
ستا دښکلا دبهارونونغمې

۱۳۶۵/۱/۱۰

# وعدې

ستاوعدې په کوم مزارکې ښخې دي
هیلې شوې کباب انګارکې ښخې دي
نن مې منصوري جذبې وخت پوره کړې
وکړه ننداره په دارکـــې ښــخې دي
وینې مې دزړه نه دي نو نورڅه دي ؟
سرې لکه لاله بهارکـــې ښخې دي
تاته به امېـــل ترې جوړومـــه زه
اوښکې دګرېوان په تارکې ښخې دي
بیابه مې نغـمې پټې دزړونـــوشي
اوس دګم نامۍ غبـــارکې ښخې دي
ته چې دکاروان زخمـــونه نـــه وینې
سترګې دې په کوم خمارکې ښخې دي

۱۹/ ۹/ ۱۳٦٤تنې د نریزې کلی

# دجنون پړاوته

عشقه زمازړه کې دشعرونو تخم وکره
دې سوې چمن کې دګلونو تخم وکره
پرېږده چې دسترګوپه پانوس مې ډیوې ولګي
حسنه په موسکاکې داورونو تخم وکره
لړمې دازخمي ځیګردمینې په اورداغه
راشه لاله زارکې د داغونو تخم وکره
ستړی به مې نه شي فرهادي عزم دعشق په لار
ماته په قدم قدم دغرونوتخم وکره
هریواسوېلی به دنسیم په ځای ورولېږم
وخته په لوټ باغ دبهارونو تخم وکره
ډک مې کړه له مالګې پر هرونه چې خوب رانه شي
ستوني کې مې خوږ دسرودونوتخم وکره
عشقه چې کاروان مې دجنون پړاوته ورسي
راشه په رګ رګ مې دسوزونو تخم وکره

د نرېزې کلی
۳/ ٤/ ۱۳٦۵

# غوښتنه

دزاهد په کاڼو ژوبل ، دساقي په غېږکې پروت وای
یا دسروو ینو یو خال وای ، دتندي په غېږکې پروت وای
ګرم عشق وای ویلې کړی ، دګودراوبوکې حل وای
پښتني لپوکې جګ وای، دمنګې په غېږکې پروت وای
چاپه ځنوکې ټومبلی ، چا پټکوکې لګولی
لوغړن سوی ببری وای ، دکودي په غېږکې پروت وای
سوی لوی سپېلنی وای ، دیارحسن ته لوګی وای
دپښتودسرو سکروټو، دنغري په غېږکې پروت وای
چې دمینې مړاوی ګل مې ، په سروو ینو راژوندی وای
خیر دی زه دې ځوانیمرګ هم ، دمرګي په غېږکې پروت وای
دکاروان یوخوږغزل وای ، له سلګی سره سلګی وای
ګرځیدای په ژوبلوزړونو، دځګېروي په غېږکې پروت وای

۱۳۶۶/۱/۱۲

PROPERTY OF ACKU 4382

# سپرلیه لرخوراشه

سپرلیه لرخوراشه ستایادونه رانه هېرشول
زخمونه مې دپرولیدل گلونه رانه هېرشول

دحسن دگلونوسترگې دکې دي له اوښکو
دعشق دبلبلانو آوازونه رانه هېرشول

دژوبل زړه په وینو کې مې تږی ارمان لامبي
ساقي نه پېژنمه دک جامونه رانه هېرشول

اغزورانه اخیستی دی په باج کې لال دوینو
راځه دزړه طبیبه مرهمونه رانه هېرشول

تیارې راته خورې دي دهجران په تورماښام کې
دوصل هغه ښکلي سهار ونه رانه هېرشول

دژوند په باغ اوبن کې دباروتو بوی خورشوی
دگلودعطرونو کاروانونه رانه هېرشول

دوریت احساس په غېږکې مې کاروان دسلگوپروت دی
آشنا یه دخندا دک غزلونه رانه هېرشول

۲۵/ ۲٤/ ۱۲/ ۱۳٦۵

دنریزې کلی

# ترخه شعرونه

تاچې ویل زمـــا ترخه شعرونـــه

هغه ترخه مې شول خواره شعـــرونه

شونډودې رنګ څکه دوينو واخېـست

دزړه په وينو مې وو سـره شعـرونه

لکه ماشوم غوندې دې وتخنـــول

چې شول کټ کټ په خندا شنه شعرونه

راشه امېل يې کړه د دنګې غــاړې

په ګرېوانه مې دې پـراته شعـــرونه

چې يې طواف ووستا دمخ په شمــع

شول دپتنګ غـوندې لمبه شعـــرونه

لکه مسيح مې په شـــعرونه راشه

ګوندې ژوندي مې شي دامړه شعرونه

لږدبخيل نـــظرسخا خـــو وکړه

چې دکاروان شي مېلمانه شعـــرونه

١٣٦٥دنربزي کلی

# نوی پسرلی

پسرلی راغی دادحسن سمبول
لکه دتېروزمانو افسانوي شهزادګۍ
لکه یتیم نه چې زاړه زاړه غمونه شي هېر
اوپه سپېرو شونډو موسکی غوندې شي
داسې وحشي ګلونه وخندېدل
اوپه فطرت کې یې سرخي خوره شوه

xxx

دسپین شبنم دهرپانوس په زړه کې
دسروګلونو دموسکا وړلمبې وځلیدې
خودشاعردښکلیواوښکو په ډولۍ کې ناسته
دښکلې مینې هغه ښکلې ناوې
لادموسکا رنګین درشل ته رسیدلې نه ده

# ژوبل غزل

زخم يم ، دوينو د پټۍ په غبرګې پروت يمه
زه ژوبل غزل يم دسلګۍ په غبرګې پروت يمه
مينه مې دشمعې په تنکۍ لمبه ماتيږي نـــه
زه ياغي پتنګ يم دسپرغۍ په غبرګې پروت يمه
ځاځکي دمجنون داوښکو يم دليلا هار به شم
غلې نن سبا که دغوټۍ په غبرګې پـروت يمه
حسن رانه تاوکړې سپينې لپچې دبنګـړوډکې
خيرکه د دارونو دکړۍ په غـــبرګې پـروت يمه
ډک مې د آدم له مستې مينې دی د زړه رباب
اوس هم د پښتو د درخانۍ په غبرګې پـروت يمه
ښنې راباندې مه ږده په ايروکې مې انګاردی پټ
هسې داسې غلې دچرګۍ په غبر کې پروت يمه
ديو دتورو شپوته بــه دوړانګـــوزندۍ واچـوم
زه دآسمانونو دسپوږمۍ په غبرګې پـــروت يمه

۱۲/۱/٦٦دنريزې کلی

# ورو ورو راځـــــه

ورو ورو راځه چې په ګلونوکې ونه ښويږې
دلېونوپه ژوبلوزړونـــوکې ونه ښويږې
طبيب آشنا پټې دمينې لـــګوه په احتياط
پام په ناسورو پرهرونوکې ونـــه ښويږې
دژوند ډيوې له محلونو نه راکوزه شه لـــږ
شغلې د ژوند راوړه قبرونوکې ونه ښويږې
راته په خوب کې چې راوړې داميدونو غنچې
پاځه چې ويښ شو په خوبونوکې ونه ښويږې
الماسي تاج شه دموسکا دښکلې نـاوې دسر
ديتيم اوښکې په ويرونوکې ونه ښويږې
چې ترېې زړونه شي خړوب ساقـي دتږوترږو
نوردمړو په نظرونـوکې ونـــه ښويږې
پنجرې کړه ماتې طلايي مرغيه والـــوزه
دغلامۍ تورو جالونو کې ونه ښويږې
اې دفردوس له رنګينو جوړې محبوبې زمـا
بس دی چې نوره دوز خونو کې ونه ښويږې
تېپې ډيوې کاروانه بلې کړه دزړه په وينـــو
راځه منزل ته کږلېچونو کې ونه ښويږې

۷/ ۱۲/ ۱۳۶۶تنې دوړې خيسوره بانډې

# ښکلیه لمره

اوښکو دشبنم کې ښکـــلیه لمره گلاـ ن وشینده
غېږدتورو شپوکې سپین سحره گلان وشیـــــنده
تېرې دغمونو دویرونو شپې غمگـــینې کـــړه
وشړه کینې اوکـــرکې زړه مـــرکز دمینې کـــړه
دغه جنگ ځپلې دژوندون لحظې رنگیـــنې کړه
راشه پـــسرلیه مـــروره گلان وشیــــــنده
باغه ! دکوثرمۍته دگــل جــامونه ونیـــسه
تاندې غوټۍ واکړه په غندل جامــونه ونیـــسه
هرتړې بلبل ته په مـــنگول جامونه ونیـــسه
گرمه دبلبل چې شي سندره گلان وشیــــنده
خاوروکې پرتې دهریتیم اوښکې ښکلوکې دي
گل نه خطا شوې راپـــرېوتې په اغزوکـــې دي
نورېې غېږکې وینمه ډیوې په هدیروکـــې دي
خدایه ! په دې هره مرغلره گلان وشیـــنده

اې ورکې خندا لړد سلګوپه غېږکې وخـــانـــده
وچې شونډې ښکل کړه دغوټوپه غېږکې وخـانده
راشه دپرهرډوینو سرو پــه غېږکې وخانـــده
راشه د دردونو درمـــانګـــره ګلان وشیـنده
پرېږدۍچې دا وچې خانګې وغځېږي تانـدې شي
ښخې دکېږدیوچې په سروګلوکې مراند ې شـــې
حسن دپېغلوټوته صحراکې لوګی سپاندې شې
والوزه نسیمه جادوګره ګلان وشیـــــنده
مینه کې مجنون چې دلیلادر شل ته ورســې
وخاندې زخمې زړه دلاله ګـوګل ته ورســې
خوچې دغه ستړې قافـــلې منزل ته ورسـې
پاکې آزادۍ په لـره بـــره ګلان وشیــنده
پرېږدۍ چې فردوس نه لنډلاسونه د پردیـوشي
خیرې ګرېوانـونه سـره ټـول دلېونیــو شي
موږ د کاروان زړه د آزادۍ په خوږو میــوشي
راشه ښکـلیه وخته بختــوره ګلان وشیـنده

۷/ ۱۲/ ۱۳۶٦/ تنې دبریزې کلی

# مه غواړه جانانه

مه غواړه جانانه رانه شنې ترانې مه غــواړه
گل مې دزړه سوی دی مشکینې وږمې مه غواړه
ولې لمبه نه شم په لمبــو کې چې افغان وینــم
وینې د مجنون لښتې لښتې په بیابــان وینم
نـن خود لیلا هغه غنچه پیکی پریشان وینم
ماسره سلگۍ دي ما نه نورې تحفې مه غواړه
مه غواړه جانانه رانه شنې تــرانې مه غــواړه
د یر آزاد سرونه په زندۍ په غرغرې پــراته
ښکلي ښکلي زړونه په پرد وچړوقطرې پراته
سوي پتنگان په سرو لمبو ایــرې ایرې پراته
مانه عاشورا کې اخترونه میلې مه غواړه
مه غواړه جانانه رانه شنې ترانې مه غــواړه
پریږده تـغزل عـاشقانه اورندانـه خـیالـه
مست شه په د رد ونوکړاوونو مستانه خیاله
والوزه خوب مه کړه دغفلت په آشیانه خیاله
ښنوکې رانه زلفې تاوراتاو زولنې مه غواړه
مه غواړه جانانه رانه شنې تــرانې مه غــواړه
واوری ء نړیوالو خــپلواکې اوازآدې غــواړو

مارچې دلستونې وي نه خپل اونه پردي غواړو
کاریې چه ستم وي نه شرقي اونه غـربي غواړو
ویښ شه د ایشیا زړګیه نورې جوتې مه غواړه
مه غـواړه جانـانه رانه شنـې ترانې مه غـواړه

ځوبه مې فردوس کې سرې لمبې د د وزخونووي
ځوپورې به ژوند لـکه یتیم په فریادونـووي
ځوبه مې پراته دمالـکې غرونه په زخمونووي
نورې مې چنګېزه دسرووینوویالې مه غـواړه
مه غواړه جانانه رانه شنې ترانې مـه غواړه

دېرونـنـــــــداري وكـړې زمادوینوداروتـه
دا شراب دوینو به مې زهرشي اغیـــاروته
کاهې به کباب زما دغوښوشي خونخـواروته
نورې مې د زړه په سیخ پېیلې توتې مه غواړه
مه غواړه جانانه رانه شنې ترانې مه غـــواړه

دازمانغمې دي که خوږې نه دي مالګینې دي
ځي دزړونو تل ته پرهرژلې دي حزینـې دي
نوربه په کې څه وي د کاروان د زړګي وینې دي
مانه په شرابو لمبیدلې نغمې مه غـــواړه
مه غواړه جانانه رانه شنې ترانې مه غواړه

حوت/ ۱۰/ ۱۳۶٦

# ډالۍ

ساقي که ستا ساغرله میوډك دی
څه ! زماستوني له سلګیو ډك دی
ته وایې راشه خوزه خنګه درشم
لاچې محفل دې له پردیو ډك دی
داوښکو پرخه مې نسیمه یوسه
دمینې ګل مې له سپرغیوډك دی
پرېشان اوربل ته او پرېشان پټکي ته
دزړه کودی مې له ببریو ډك دی
د دیدن تږې به ماړه شې څنګه ؟
ګودرله سرو ماتو منګیو ډك دی
زما دژوند په بڼ خزان راغلی
بس ګورستان مې له غوټیوډك دی
لاله صفت ته دې وزګارنه یمه
دلته ټېر له مردکیو ډك دی
ښکلیه نظرته دې لوګی لوګی شه
زماغزل له سپېلنیو ډك دی
چې کله خاندې نوډالې به درورم
څیرې ګرېوان مې له غمیو ډك دی
کاروان په ښنو کړې دتناکو پنې
څه که منزل یې له اغزیوډك دی

۶۶/۶/۲۹

# اختر

اخترخوخاندي په کټ کټ تېرېږي
خودازموږنه ولې پټ تېرېږي؟
ښکلی فردوس راته دوزخ جوړشوی
دژوند لحظې مې پاس په بټ تېرېږي
ولې به نه چوي زړګی دبلبل
چې په ګلونو کې ګونګټ تېرېږي
هغه زړګی چې ځلیده لکه لال
اوس یې په سرښاماران غټ تېرېږي
اختره وبخښه خندلی نه شم
زما په ویرکې هرمېلټ تېرېږي
تاندې تنکی هیلې شوې خاورې ایرې
ځې جنازې یې مټ په مټ تېرېږي
داهم انصاف ! دی ناروغ ونه لیده
طبیب په خوا د روغ رمټ تېرېږي
شنو ترانو ته یې لږصبروکړیء
کاروان په اورکې لټ په لټ تېرېږي

۸/۳/۱۳۶۶ دکوچني اخترد وهمه ورځ تنې وړیه خیسوره

# دغه ښکلې پسرلی دی

په پټکي ګلونه ، نه شته په اوربل ګلونه ،نه شته
ځولۍ ډکې له اغـــزودي په منګول ګلونه ، نه شته
په کوځه ګلونه ، نه شته په درشل ګلونه ،نه شته
دیارانو اودوســــتانو په محفل ګلونه ،نه شته
دغه ښکلې پسرلی دی ؟
دغه ښکلې پسرلی دی ؟

دبامونــو په ســـرونو کودي مات دي دبریو
دبیروتورې غنچې دي لــګیدلې په ګولیــو
په ګودرکې پیغلې نه شته نه شرنګا شته دبنګړیو
څیرې ویرې ګریوانونه دي دعشـــق دلېونیو
دغه ښکلې پسرلی دی ؟
دغه ښکلې پسرلی دی ؟

بلبلان سورې په غشو ژاړې ژاړې په نغمو کې
له مست زرك ده جوړی ورکه چې له جوشــه وهي کــوکې
دګیګړګلونــــه ژاړي په کـــمراوپه دروکې
شپون له ژونده مروردی شپېلۍ ډوبه په سلګو کې
دغه ښکلې پسرلی دی ؟
دغه ښکلې پسرلی دی ؟

دهجران تیارې چاپېره دوصال له رڼ مشال نه
دباروتو ماران تاودي دبوډۍ له رنګین تال نه
دېرواوښکو آرام وړی له سروسترګودغزال نه
عشق په زړه باندې زخمي دی لرې پروت دی له جمال نه
دغه څنګه پسرلی دی ؟
دغه څنګه پسرلی دی ؟

دشنېلیو په شنه غېږکې دسکروټو سورباران دی
پاڼې پاڼې دي ګلونه لوټې لوټې ګلستان دی
دلاله په زړه کې نغښتی دزخمي زړګي داستان دی
عجیبه ده عجیبه ده پسرلی راته خزان دی
دغه څنګه پسرلی دی ؟
دغه څنګه پسرلی دی ؟

دګلونو په صحراکې دکوچیانو کېږدۍ نه شته
شرمول یې چې ګلونه هغه مستې کوچۍ نه شته
چې اوښان به یې مهاررو لېونۍ شین خالۍ نه شته
له نظره کړې شین سترګو له داغ روغې غوټۍ نه شته
دغه څنګه پسرلی دی؟
دغه څنګه پسرلی دی؟

چې مې چادزړه له خم نه مې دوینو دي زېښلي
دهغې په څربه خېټه سره اوروونه لګېدلي
دوزخونو مې فردوس نه پسرلي دي تښتولي

دوزخونه به ړنګېږي ماخوبونهٔ دي ليدلي

دغه څنګه پسرلی دی؟

دغه ښنګه پسرلی دی ؟

چې ګلـــونه په کې کــم دي چې زخونه په کې ډېردي

چې يوهم په زړه روغ نه شته چې دردونه په کی ډېردي

دخندا تــش پاتې نـودم دی فريـادونه په کې ډېردي

دوصــــــال دنيا تـالاده هجرتـونه په کې ډېردي

دغه څنګه پسرلی دی؟

دغه ښنګه پسرلی دی ؟

دغه زړه دپســرلــــودی پسرلي به راژوندي شي

دزړه وينـــه به تـاريـــخ ته ښکلی خال پاس په تندي شي

افغانان به سره خــپل شي تيتې سترګې به پردي شي

لېوني کاروان ته بيــــابه ليلاجوړه آزادي شــــــي

پسرلي به را ژوندي شي

پسرلي به را ژوندي شي

۱۳٦۷

# دعا

دزړګي په تخت مې کښېنه ښکلیه راشه
زه سلام درته کوم ته مې بادشـــــاشه

دبېـــواغزومـــې پــــرخه درتـــــه راوړه
خادمانو تــــه دې ګـــله په خـــــنداشه

په پردو چړو مې زړه ټوټې ټـوټې دی
مینې راشــه په زخمـــــونو یې دوا شه

دسبا باده غــــټۍ په زړه زخمـــــي ده
پټ په غوږکی ورته ووایه چې واشـــــه

خدایه کبرکړې زوال دیزید یانــــــــــو
وینه وچه په دوهمــه کربلا شـــــــــه

دیتیم ژړا خوعرشـــــــــه پورې لاړه
دوطن مورې لاس جګ کړه په دعا شه

مجنونان به ترڅوګرځي سرګـــــر دانـــه
ازادۍ له خندا شنه شه شـــــــالیلاشه

دسپرلوقاصـــــده وشیـــــنده ګلـــونه
دفردوس منــظرې جوړه په صـــحراشه

دوطن چمن مې لولپـــــه لمبه شــو

خدایه ورکه دبـــاروتو اژدهــــا شـــه

اوردې شپې مې په ژوندون باندې خورې دي

دســـبا گرېوان کې لمـره په ځلاشــــه

ارمانونه مې په خــــاوروکې پراتــــه دي

په مزارېې یـــاره راشه مسیـحا شــــه

یه په زړه ظالمه حـسنه خـبرنــه یـــې ؟

مهجورعشق خو زاره چا ودی شو پخلاشه

په وطن چې دوحدت نارې خـــورې شــې

دابلا دځــانــځانی تــــالااوالاشــه

چې ښکلاته دې جهان گوته په خوله شي

بیـــا سینگاروکړه اوناوې د اېشیا شـه

بیاکاروان مې که دژوند په مرگي لوټ شي

خیردی یوځل خوپه ژوند یاره زمـــا شه

۱۳۶۷

# موسکۍ شه

موسکۍ شه ستا حضورته مې سلګۍ راوړې دي
داوښکو ډکې سترګې مې ډالۍ راوړې دي
منګولْ کې راځه واخله دازما دزړه رباب
يوځو مستې نغمې مې لبونۍ راوړې دي
دځنو په تيارو به دې ډيوې ولګوم
ګلونو دارمان مې سرې غوټۍ راوړې دي
زړګی مې تخنوي لکه ماشوم يې خندوي
سپرلي راته ورمې دآزادۍ راوړې دي
سره به مينه نه شي لاتوده به وي توده
سينه کې مې جانانه سرې سپرغۍ راوړې دي
خبرنه يې ختنه؟ باروت کډې باروي
آهوراته بياسترګې غرځنۍ راوړې دي
ليدلی مې دی خوب خويم په ويښه په خندا
جانان مې دزړګي کورته کېږدۍ راوړې دي
کاروانه ګونډې تنده دې شي ماته دمودو
ساقي وايي پيالې مې ځنډنۍ راوړې دي

۱۳۶۷/۲/۲۳

دتيږوغرونه دزېږکمر دښتو په لمن کې

# دمهاجر فریاد

کاشکې چې یوځلې مې ښکل وای دوطن لمنې
خیردی که بیاوای رانه تاوې د کفن لمنې
هغه پرون به چې گلونو ورته کړې راوړې
نن دي له سرو سکروټو ډکې دعدن لمنې
مینې مې تارپه تارلمن کړه دشیرینې په نوم
لکه پرتې وي څیرې ویرې دکوهکن لمنې
دژوند په ناوې به سبا وروم گلونه
خیردی که ډکي له اغزیو مې دي نن لمنې
سترگې مې ستا په لوري وختې خوگرم نه یمه
دغر څنو سترگې خوځاري دختن لمنې
دوخت قارون مې په گوهر داوښکو نه مړېږي
ترې ډکوي سحر، غرمه او ماخستن لمنې

دوطن غېږکې مې د زړو نو عقیق وورېدل
ورته حیرانې دي له ورایه دیمن لمنې
دادهجرت خړې خېمې به تروصاله رسي
آخر به پلنې کړې دګلوپه لمن لمنې
سوي چمن ته به سپرلی درنګینیوراشي
پېغلې ورمې به ډکوي له یاسمن لمنې
فضا به بیاشي مسته مسته په نغمو دمینې
بلبل به ډکې کړي په ځالو دچمن لمنې
کاروان بنوته خپرولي دي اینې داوښکو
په کې څارې آشنایه ستا دخوږ دیدن لمنې

۲۵/ ۲/ ۱۳٦۷ ننې

# ساقي ته

ساقي راشه سور اور مې په توبې ولګوه
مخموریمه منګولې په پیالې ولګوه
په سپین سبا وروغزوه لاس دپلو شو
دژوند تیاره ماښام کې لمې ډیوې ولګوه
مجنونه ! که لیلا غواړې را ځه ،راځه، راځه
دخوږژړګي په دښته کې خېمې ولګوه
ګرېوان دې راته څیرې کړه خوېوسه داډالې
دچاګمنام مزار باندې جنډې ولګوه
مضراب دخوږې مینې شه زړګیه دکاروان
په چوړیو ربا بونو کې نغمې ولګوه

۱۳۶۷/۳

# تاته راغلم

تلوسه مې يوپه دوه شوه تاته راغلم
مړه دصبرمې ډېوه شوه تاته راغلم
تتيدل مې زده داوښکو ستورو نه وو
شپه دکال غوندې اوږده شوه تاته راغلم
په قدم قدم غماز راته مـغل و
زمامينه پښتنه شوه تاته راغلـم
دزړګي په خم کې ځاځکی پاتې نه شو
هره اوښکه مې پياله شوه تـاته راغلم
ماساتله پته مينه پته نه شـوه
دخوشبوغوندې خوره شوه تاته راغلم
ستا په لاره کې مرګی راته په ګواښ و
خو جذبه مې بدرګه شوه تاته راغـلم
دهجران غشي يې نوززغملی نه شول
زاره چاودې مې نغمه شوه تاته راغلم
يوکاروان دارمانو مـې راوړی
که منظوره مې جرګه شوه تاته راغلم

۱۵/ ٤/ ٦٧

# غزل

ساقی سوي لوي زړه ته لږارام را

چې تش کړی مې یوجام نه وي بل جام را

ستا دزلفوپېچ وخم کې بــه څو ګیریم

یو رنګین غونډۍ سحرد دې ماښام را

وخته ډېرې دې د زهرو پیالې راکړې

څه خوسرې میکونې شونډې دګلفام را

چې مې زړه بنګې وکړي ټټرپــرېږدي

ډک دمینې په دې مړو سترګو ســلام را

شاعران مې چې الهام له نغمو واخــلي

دشاعر حسن ښښتنه څه الــــهام را

ځوبه سترې لالهانده کاروان ګرځي

سرمنزل دخوږې مینې په یوګام را

١٣٦٧/٤

# آزادي ښکلوم

گلونه سوي دي اغزي ښکلــوم
خزان ځپلي پسرلي ښکـــلوم
اوښکې کرم چې په کې شنه شي گلان
دخاورولاندې بوزغلي ښکلوم
ديارکوڅه کې لپوني مې بولي
خاندمه کاڼي په تندي ښکلوم
چې له ژړا نه مې نغمې کړي جوړې
ناسورزخمونه دزړگي ښکلـوم
حسنه ! له عشق نه مې گيله مه کوه
چې ببرسري لپـوني ښکـلوم
زه دساقي دميو نه يم عــادت
دافغاني گودرمنــــگي ښکلوم
خوب غرځني شورانه وتښتيدو
دچاپېريال آه وزگېروي ښکلوم
نادان کاروان به يې غزل گڼي خو
دزړه په وينو آزادي ښکـــلوم

٤/١٣٦٧تني دتريزي کلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## يوه مسته ترانه

دانن څه مست اومخموريم ، چې له ځانه ګران ته راغلم
له اغـــيارونه بې بـــاکه ، په ډګر جـــانـان ته راغـــلم
که هرڅويم اوښکه اوښکه ، نوره هيلوراســره دی
يوامېل يمه جوړېږم ، په ګډا ګرېوان ته راغلم
ديوسف(ع) خوشبو کميس يم ، ړوند يعقوب(ع) بينا کومه
دقاصد په لاس کې خاندم ، ښايسته کنعان ته راغلم
هغه ښکلې ،ښکلي ، ښکلې ، چې يې بدنظر، ونه خوري
وې ! چې مايې سپېلنی کړه ، چې دې سوې ځان ته راغلم
چې په وچ ساحل ګلونه ، دديدن راو تو کيږي
دارام درياب له غېږې ، په څپوطوفان ته راغلم
دسحردلرشغله يم ، په جګ غره راو اوښتمه
رقيبانو ته سورا ورشوم ،چې ستاسره پېزوان ته راغلم
يوناسورغوندې پرهروم ، دزړګي په تل کې پروت وم
يوه مسته ترانه شوم ، لېونې کاروان ته راغلم

۱۳/۱۲/۶/۱۳۶۷ تنې دنريزې کلی

# گله درځم

دژوند په ښاخ کې دزړه ګل یمه شوکوي مې ولې
بیا به ارمان کوې دشنه پسرلي ګل خونه یم

زمانې ښکلوته مې دودکړه سیپلنی خودې کړم
ایله چې سترګې توروي په ما کجل خونه یم

زړه مې ښتون دی چې پهلتون ته مهلستبا ورکوي
رقیبه پوی دې په جفا یمه پاګل خونه یم

دتکیه سته شه بدنه دیتیم دکورګي
ماران دزلفورانه تاوچې وي صندل خونه یم

خیردی که وخت راته په دښتوکې اغزي وکړل
ګله درځم هغه کاروان یمه بدل خونه یم

١٣٦٧/٧/٩

# گله وخانده

زه دې اوښکې اوښکې توی لکه شبنم شم
گله وخانده چې ستا سره همدم شم
ستا په تورکه په خنجر قلم قلم شم
آزادسريمه په خدای که ورته خم شم
پښتانه مېلمه نظرته مې موسکې شه
هسې نه چې رقيبانوته دې کم شم
یوزړگی یم ډك دزړونو له فریاده
درباب غوندې چې سرپه زیروبم شم
ښکلیه دادې څه انصاف دی ته وخدای چې
زه چې ستا جفا، جفا بوله گرم شم
لبونی مې دشیرینې په سربولي
دفرهاد غوندې چې غرونو ته اړم شم
اوس که وینې یم خوشین به له خندا شم
زه به خال په غونډه زنه دصنم شم
یوغزل یم خو باور مې دی کاروانه
چې به سوولوو زړونوته مرهم شم

۱۳۶۷/۱۰/۲۷

# دوطن مينه

زخم دزړګي مې له مرهمـــه ځي
اوښکې مې په تا پســــې صنمـه ځي

بيا دهجرتو نو قافلې راغــــلې
خدای(ج) خبر اغزوکې به ترکمه ځي

يا الله چې حال به يې دروح څه وي ؟
څوک چې له مونس اوله همد مه ځي

بل يې په جنت اور دوزخونو کړ
داچې له ګا ونډه اوله چمه ځي

دوديې دباروتو تاوله زړه نه شو
رنګ دسروګلونو له شبنمه ځي

مينه دوطن مې لکه سيوری شوه
هرچېرته چې ځم راسره سمه ځي

داخومې کاروانه دزړه وينې دي
څوک وايي چې رنګ مې له قلمـه ځي

۱۳۶۷/۹/۳/٤

زمی ۱۳۶۷ د هغه شپې په سهار چې گروموف «دسالنگ قصاب» دسالنگ په لاره کې نوډي شپېسوه افغانان واړه ، زاړه زلمي په شهادت ورسول کلي لوکوروونه يې وران کړل.

# په کابل څه تېرېږي ؟
# په سالنگ څه تېرېږي ؟

زمهريرمېشت ودکابل په جنت
تالاوالاوهغه زېب اوزينت
چې له ښکلانه يې کيسې وې ډکې
دکابل جان له ښکلا
ډېرې سينې وې ډکې
نن په هغه جنت کې
تنکي تنکي ماشومان
لکه تنکي گلونه
سخته يخنۍ کې رپيدل رژيدل
اودتورسروله ببروسرو
دمرگ په سختو اوياغي سيليو
دژوند تکري لاندې ترپښوپرېوتل

دوړو تړو چیغې پورته وې خو چا اورېدې ؟
دحاکمانو لاس کې
دزړو میوشنې پیالې کړ نګیدې
ډک ډک خمونه تشیدل ، تشیدل
دوریت کباب په سینه
تېره سیخونه پورې هورې وتل
هېڅ ملامت نه وو دوخت حاکمان «.....!»
په دې نشوکې دماتم غړونه چا اوریدل ؟
چې دګناه په لاس کې تشې شوې دمیو پیالې
دمزه دارکباب قحطي راغله
دپولادي شویلو نسونه تش شول
افغاني وینوته له تړو سرو ېونو ځنې
دمیګ جازونو وزرونه تش شول
دمستومستو حاکمانو په خوله
نارې سورې شوې چې موږدېروړې يو
جوړې لبنکوې شولې ګډې وډې
دسالنګ لاره شوه په شویلو ډکه
دهريو توپ له میل نه غم وریده
پاس له اسمانه جهنم وریده
په واورو پټ سالنګ په اورکې پټ شو
ژوندون دمرګ له وېرې ګور کې پټ شو

بیا دشین سترګو سترګې سرې شوې دافغان په وینو
هغه په سوله مـین (.....!) لامبي دانسان په وینو
هغه له وچوسره تاندي سېځي
دژوند تنکۍ تنکۍ غوټۍ هم لکه سپاندې سېځي
دسپینو واورو په ټکري پټ یخ نیولی سالنګ
دسرو دېوانو دباروتو په اورلولپه شو
آه ... دبې قدرو په لاس
په سپینو واوروکې ټوټې ټوټې زړګي پراته وو
لکه دښکلي بدخشان ځلند غمي پراته وو
دژوند ګلونه په سوونو ترمې ترمې توی شول
دغریبانو افغانانو خړدخاورو کورګي
اوس ورنه ړنګې کنډوالې جوړې شوې
اوس په دې لارځې ددېوانو لښکر
چې تاریخي ماته یې وخوړله پښې وکاږي
په شا راګوري نه ارم پرېږدي
په حریص زړه باندې لوی غم پرېږدي

زړی ۱۳۶۷

# قافله

په لاره تلمه په ځان نه پوهیدم
راباندې ښنبل نوي غزل جامونه
لکه چې ښه مخمورنوش کړې وي څه شل جامونه
ګلونه هسې هم ګلونه وګلونه پرېږدئ
سپېره اغزي هم راته ګل ګل کیدل
الماس دېرخې یې په څوکو ځلیدل ځلیدل
باغ کې دزړه مې دغزلوتوري
لکه صفا رنګین ښکې مرغان
په نغموسرو والوتل الوتل
اودمسروپه غزیدلوښانګو
یویو راتلو او کېناستل کېناستل
په دې فردوس کې مې لاڅو ګامه اخېستي نه وو
لاستړې روح مې ارام کړی نه و
چې یوې غمجنې سوې لوې کړیکې
رانه رنګینې نشې یووړې یووړی وبوږنیدم

داحساس لاس مې لکه پانه غونډې ورپیده
دغزل جام مې په عدم کې شو توی
او په دې کړیکه
دقافیو رنګین بڼکې مرغان والوتل
دمسرو څانګې خچې پچې شوې څه پاتې نه شول
دزړه نقشه مې شوه یودم بدله
هغه ګلشن په کربلاشویدل
هغه خیالونه خندیدلي شول ټول وینې وینې
زما احساس شو پرهرژلی داسې
لکه حسین وي په سینه خوړلي
دیزید یانو غشي
*نورنوخه وو خو اثرو
ددې سوې لوې کړیکې
چې مې زړه شوې چړونه
ژوبل ژوبل لیکې لیکې
زماښکلی کلی پروت و
داوچتو غرونو غیږکې
درمندوکې یې ځوانان وو راټول شوي
لکه هېرچې شي یتیم نه
ټول زاړه زاړه غمونه
داسې دوی په خندا سرور

ددې کلي په لمن کې
بس په ښخنک دهلیزي کې
چې جنډې دشهیدانو
رپیدې لکه کوترې
غزیدلی یوه لاروه
تکه سپینه لکه تکه سپینه لېچه
دهجرت دقافلویې وونښکل کړي
په زرواره قدمونه
خولا هغسې پرته وه
ښکلول یې قدمونه
دمینو دمهجورو
دپښې یبلو
دسرتېرودسرتورو
ددې لارې په سم منځ کې
یوزلمی پښه په رکاب و
سره اورسوی و ، کباب و
کوریې رنګ په اضطراب و
دهجرت له قافلې و ، لرې پاتې
په زړګې یې ګرځیدلې
دخپل کلي ګوډې ماتې
سترګې سرې لکه ډیوې یې

هديرې ته واړولې
سريې پورته کړجنډوته
بيايې ټيټ په احترام کړ
څه دعايې وويله
يو ناڅاپه يې په غوړشو
دخنداووآوازونه
پټ يې وويل په زړه کې
خدايه شکرچې خندا هم لاژوندۍ ده
سترگې برنډې برنډې پاتې
په ځوانانو کې گنډلې
زړه يې خپل کلي ته لاړو
په کوڅو په کنډوالوکې
په پراخو درمندوکې
په پټيوپه باغوکې
لټونی لټونی گرځې
کله شين شي له خندانه
له ژوندي يارسره کېني
يو ناڅاپه بيا غمجن شي
له زخمي يارسره کېني
کله وژاړي په کړيکو
دشهيد جانان په قبر

ډیوې بلې کړې داوښکو
اوکتاریې په مزار کړي
زړه یې ډېر وګرځیدلو
دخپل کلي په ګودرو
لکه تږی مرغه بیا بېرته راستون شو
مالیده چې دټټر پنجرې ته لاړو
مخاطب مې شو دکلي هریو ځوان ته
او په کړیکو کې یې ووې
" عالمه یو تریل جاربږیء
مادمجلس یاران لیدل چې خاورې شونه "
چو یې ووېل اواس یې
دهجرت په قافله پسې روان شو

(۱) نومړی آزادشعرپه دووآهنګونوکې راغلی دی .
۳/۴/۱۳۶۷ تنې دټریزې کلی

# خزان ته !

وخانده اوخانده خزانه راته وخانده
ستا له ژوبل ژوبل پاڼې پاڼې گل نه زار شمه
ستا په تښتېدلي رنګ ځین یمه
ای ژیړه خزانه راته وخانده
ای د رنځورانو ترجمانه راته وخانده
ستا دولی ژیړې نرۍ پاڼې چې رپ ،رپ کوي
ماته دجونګړو رپېدونکې ډیوې یادې شي
جوړ مې له احساس نه شي یاغي پتنګ
ساه واخلي ژوندی شي په څرخونو شي
واچوي اتڼ د پلو شو د سره ګنبد لاندې
لولپه شي وسوځي لوخړه شي
پټ د رڼو اوښکو په مزار کې شي
شمع رپوي پرې دلمبو جنډه
زه یې دمزار په سر
ستا د پاڼې پاڼې ګل په څېر شعرونه وشیندم
اې خوږه خزانه راته وخانده
وخانده اووخانده
زار دې دیتیم غوندې څېرې نه شم
زار دې له سپېر ویاغي بادونو شم

نه دي د چنار زريني پاڼې دا
پورته په آسمان کې چې ګڼا کوي
دغه دطلاووزرين توري دي
ښکل يې کړه په شونډو داسمان پاڼه
ولیکل شعرونه ليوني شاعر
اې دليونو ځيري ګرېوانه راته وخانده
وخانده اووخانده خزانه راته وخانده
ته خو يو فردوس يې خو په غېږ د دوزخونوکې
ژېړ زېبېښلی ګل يې دا غزوپه خنجرونوکې
ته خود شاعر د ډك زړګي فريادي کړيکه يې
اوښکه يې سلګۍ يې دخندلي زخم ځړيکه يې
ای ديوه ترخه ژوندون داستانه راته وخانده
وخانده او وخانده خزانه راته وخانده

۱۳٦٥/۷/۲٦ تنې

# ساقي نه

ساقي دکه پيمانه را واړوه
غرقې سترګې مستانه راواړوه
په رباب دزړه مې ښخې کړه منګولې
په کې سوې ترانه راواړوه
ميخانه کې کوثري اثرپيدا کړه
په شرابو زمانه راواړوه
زه ملنګ ستا ددیدن يمه راغلی
دسروشونډو شکرانه راواړوه
پيغلې حورې دجنت ، اوښکوکې لامبي
داتسپې دانه دانه راواړوه
چې په روح مې دموسکا جلوې خورې شي
مخ دې څه په بهانه را واړوه
چې دښکلو زړونه نرم شي کاروانه
يوغزل عاشقانه راواړوه

۱۲/ ۹/ ۱۳٦۸ تنې دنريزې کلی

# ژورکوهی

لکه دسروتنکو گلونو په وړوکې باغچه
له پـــاسه بم راشـــي
اوپه کې وکيني په خپلو اوسپنيزوپنجو
يو ډېرتياره اويوژورکوهی
په دې ژورکوهي کې
هغه تنکي هغه پی مخي گلان
چې دمـین بلبل خوږو نغموته
لاډسپرلي نسيم په نازناز نخولي نه وي
هغه تنکي هغه موسکي گلونه
دلومړنی تنکی موسکا په غبږکې
دخپل ځيگرپه وينو ولمبيږي
مرگ يې دژوند کله ژور کوهي ته ولېږدوي
اودمين بلبل په ستوني نيمه خواشي پاتې
دخپلې تاندې تنکی مينې نيم بسمله نغمه
داسې زما په زړه کې هم جوړشي دغم په گوزار
له تکو تورو وينو ډک يو ډېر ژور کوهی
په کې غرق شوي ارمانونه اميدونه زما

په کې چاودلي حبابونه دي دژوبلو هیلو
دبنو ګانو په تار
ترې راوباسم سلواغې داوبنکو
زما داوبنکو په دې هرسلواغه کې راځي
دبنکلي یاردیدن ته
دناکرارو تلوسودپرهرونوویني
که هرڅو چیغې اوناري ووهم
زمادا دک زړګوټی
نه نه دغم دغه ژور کوهی تشیږي کله
په درد مېین شم خیال مې وکړي د پرواز وزرې
یتیم فریاد ترغرشه ورسوم
یولېوني شاعرشم
اودا ژور کوهی تشبیه کړمه زه
درنګ له ډکې مشوانۍ سره
دشعر قلم ترې ډکوم خوازه شعرونه لیکم
ګوندې دچا په زخمي زړ ونوباندې
لکه دزخم پټۍ ولګېږي

١٩/١٢/٦٨ دتنهو دنریږي کلی

# مه ګوره

زړو نو ته هم ګوره اشناتش مخونه مه ګوره
هسې نه خطا شې کاغذي ګلونه مه ګوره

ښکلیه که دمیني او الفت سره دې مینه وي
مینه ښکلوه خوتش اوړک جبونه مه ګوره

داغنکه خمار دی چې په سرجا مونه واړوي ؟
کوم ساقي ویل دوینو ډک جامونه مه ګوره ؟

تاکه د خلیل عزم پیدا کړو تو ګلزار به شي
ژبې دې را باسي دنمرود اورونه مه ګوره

نه خوپسرلی یې نه خواوښکې وروړلی شي
ځه! په وچو سترګو دلاله داغونه مه ګوره

دا «غنچې» «مهجورو» بلبلانو ته هجران ګالي
تکه توره زاغه سترمن باغونه مه ګوره

وخته یو یادګاردی دجانان په درکې پاتې دی
اوس مې دشکیدلي ګریوانه تارونه مه ګوره

ته چې د زړګي ډیوه کې وینه بلوی نه شې
مه راځه دعشق د خوږلارمان قبرونه مه ګوره

زه دلبونیو له کاروان سره راغلی یم
مست قلم مې ګوره دا ځیره لاسونه مه ګوره

۱۳۲۸/۹/۲۷ تنې دچور کونډې دځنګل لمن

# ترانې

په ترانو چې زمانې جوړوم
یم لېونی چې ترانې جوړوم
مړه شوه په ښکلي کې جذبه دجنون
څله داوښکو زولنې جوړوم ؟
دښو غشي به دې ټیټ شي راته
سترګونه یر ندې پښتنې جوړوم
بس دی پرواز کوم تر څو پورې به ؟
له خط اوخال دام اودانې جوړوم
نه شته توبې تش په نامه توبې دي
ساقي ویل چې میخانې جوړوم
یار مې په خوب کې غم سلګی چې وکړې
داسې غمجنې افسانې جوړوم

خوږ دی اغیارته یې کړي زهر مولې
افغان زړګي نه پیماني جوړوم
له پښتون عشق سره مې و کړه وفا
ښوېه دیدن ته بهانې جوړوم
زه مهاجر په کې ستامخ ته ګورم
له سپینو ستورو آئینې جوړوم
ګل مخیه ستا په یاد اوسېږم په کې
داچې اغزو نه کا شانې جوړوم
تا لاوالایې کړي کاروان دسلګو
یارته چې زه ګیلې مانې جوړوم

١٣٦٨

# وینې

کړې یې تمامې دا نګورو دبا غونو وینې
نن دساقي په جام کې وینمه دزړونو وینې
پرون دې خال ته وړې زما د پرهرونو وینې
خونن دې شکل نه کړې دشونډوپه سرونو وینې
چې په غزل کې مې ذره تغزل پاتې نه شو
چارانه لوټ کړې درنګینو غزلونو وینې؟
سپرلی خونه یې دسپرلوپه وینو ولمبیدې
قاتله ولې تویوې دسروګلو وینې
دسالار وینې دچنګېزخېمې ته نه رسیدې
اوس تویوي دلالها نده کاروانـــونو وینې
چې دکباب مزه یې ګډه شې په کیف دمیو
په سرو لمبو کې پخوي دځیګــرونو وینې
راشه جهان راپسې پس له مــرګه مه لټوه
هغه دی قی مې کړې ویشتلیو فریادونو وینې

څه بې پروا دې وشکاوه زما له زخمه دسمال
شوې مې خورې ورې په ډېرو وطنونو وينې
دوصال ناوې راشه خال که په تندي لګـــوې
هسې نه وچې شي زما دهجرتونو وينـــې
په خدای وېر برېم هسې نه چې زړه مې ټق وچوي
سل اوزر څاڅکي نه دې ځي په مليونونو وينې
خود به کاروان دمرثيو او دويرونو شمه
پولادي غشي تويوي دارمانونو وينې

١٣٦٨ميران شاه

# اسویلی

دا گناه مې وه چې تاته سپېلنی شوم
اوس مې ښه په کاڼوولـه لېونی شوم
غرڅنۍ غوندې په کومه رانـه لاړې
ببر سری په غروګرځم غرڅنی شوم
چې پېرزو دې یاره ولې په مانه دی؟
ستا دیدن ته سترګې سترګې اوزړګی شوم
کوه ناز خوبیا به ډیرګلونه راوړې
پس له مرګه چېر ته زه که راژوندی شـوم
راشه مه وېربېږه ګل مې داوربل کړه
دا خوهسې رقیبانوته اغزی شوم
وینم خوب وایم چې زیری مې دربـانـدې
په سینه به دې زنګېرمه ځونډی شوم
دځیګر کباب مې وخوره دیار غمه
زه په مینه کې سخي او مېړنی شوم
هغه ورځ به دجنت وي چې ته وایې
خانده خانده ستاد هیلو پسرلی شوم
چې یې خوله غواړمه وایي لرې لرې
دشیدودسر پېروی یم تـــنکی شوم
عاشقان به مې غزل دکاروان بولي
زه له زړه نه راوتلی اسوېلی شوم

١٣٦٨

# پسرلی راځي

چې ډیوه مخی بهار موسکی راځي
دمابښامونو مخ رونی راځي
دزړه کودي کې مې ساتلی درته
په تور پیکي به یې ببری راځي
راځي فردوس نه دښکلاپرښتې
په خوږ وطن مې پسرلی راځي
روغو دمینې احترام بې وکړیء
دجانان درته لېونی راځي
مهجوربلبل به تنده خود ماتوي
دګل په لاس کې کندولی راځي
پرون چې مات و دجفا په کاڼو
په غنچو پټ هغه تندی راځي
له پاسه غرراځي چې سرنه شي وړی
داپښیا زړه نه یې پردی راځي
د آزادی پیغلمه تلوې هم شي
په سریې نن سبا تکری راځي
له ګل غوټو نه به مچکې واخلم
خیر دی که پوندوکي اغزی راځي

ښکلیه که اوس مې وینې کړې عفوه غواړم
بیا به نه درد اونه زګېروی راځي
کړوېږ راوینې دا میدونو کاروان
دزړه جرس کې مې شرنګی راځي

۱۳۶۸ تلې دتریزې ثلې



# غوښتنه

څومره دې له خدایه په باربارغواړم
څه وکړم خوزړه ته مې قرار غواړم
«ستر ارمان لرم چې آواره ګرځم »
خلکو دجنت غونډې دیار غواړم
بیا چې غرڅنې ګلوکې ورغړي
سو لوو دښتو کې بهار غواړم
دبر په تنها یې کې بوږنید لي دي
جوړ په هر ګودرلنډۍ بازار غواړم
مرم دچتو ژنیو په اتڼ پسې
چیغې د قربان اویکه زار غواړم
سترګې مې چې ډکې له ګوهرو دي
زه خو دینارنه غواړم دیدار غواړم
ورك خواره یاران چې سره بیامومي
پټ په تورو شپو کې سپین سهار غواړم
داغ نه یې مچکې چې بورا واخلي
مسك په سرکو شونډو لاله زار غواړم

ما چې دا حساس په تلر کې وېښېږه
زړه مې د محبوب په غاړه هار غواړم
ولې مې غلام خاندي په عشق پورې؟
ژوند د آزادۍ که نه وي دار غواړم
داچې د غزل ځیگر مې وینې شو
وینې یې سر خې سعا په رخسار غواړم
نور په ناسور زخم غشي وړی نه شم
اوس ورته د مینې پرستار غواړم
ورك به مې كاروان په ډېرو لاروشي
زه ورته یو لار اویو سالارغــواړم

۱۳۶۸/۱۰/۱۷

# دعا

په هر درشل به لکه خوړ باد د سباتېرېدم
سوراسویلی شوم چی په سیمه داشناتېرېدم
دژوند صحرا که وه اغزنه خودګل په ارمان
زه دتنها کوپه پنهو کې په صحرا تېرېدم
دمحبت کوڅه کې کاڼي په تندي ورېدل
خامخا زه به لېونی وم په خندا تېرېدم
عشقه دا څومره دې خود دار کړم چې له ښکلي ساقي
دمودو تږی وم خو بیا هم بې پروا تېرېدم
دیار دسترګو په زیارت کې وې داوښکو ډیوې
زړه مې په نذر کې و اینبنی په دعا تېرېدم
زړګي ویل دمیو جام یم خوساقي مې پردی
جانان مې پاتې شو اغیار ته په شرنګاتېرېدم
دلاله زار ځایونه ونیول دوینوڅپو
د ا زما دښتې وې که سم په کربلا تېرېدم ؟
چې وریت مې ولید دمونو په لمبو کې پتنګ
شمعې ویل چې اوښکې اوښکې په ژړا تېرېدم
ستړی کاروان وم خوپه خوله مې داد عاوریده
خدایه دلارې مل مې راولې تنها تېرېدم

۱۳۶۸/۵/۱۳ وړی خیسوړ

# داوښکو سپرغۍ

لړمې دړېټ کړه د لمبود لوپټو په لمن
پتنګان تل کوي څوبو نه د ډیووپه لمن
زما دزړه په وینو ښکلی شوې خونخواره اشنا
پخوا دې کله وه سرخي د اننګوپه لمن
په تړې زړه مې کوثري سترګې راوروره
بس دی داغونه لګومه د تو بوپه لمن
راوړه لېموته دکړو بڼو په څوکو دیدن
پټري لګیږي تل دماتو کچکولو په لمن
ټوټې ټوټې زړه مې راټول کړه چې یوه غنچه شي
چې درنه پرې نه وزي تړه یې دکمڅو په لمن
دغمازانو په خندا بــه لمبې ولــګوم
سپرغۍ داوښکو بلوم دا سو بلو په لمن
بتانو زیری مې دربانډې ابراهیم به راځي
بیا به پراته وی‌ء دړې وړې دکعبو په لمن
لکه شهید چې دګلو نو په څادرکې وي پټ
څوبه غمجن ګوروګلو نه دسپرلو په لمن
حسنه په قدر دې یوازې لېوني پوهیږي
عشق ورښودلی دی سبق د زولنوپه لمن

بیگا مې خوب کې وچې څانګې په ګل پټې لیدې
سبا به سپینې لبچې راوړي دبنګړو په ټن
د آزادۍ لیلا کاروانه خال په زنه غواړي
دوینو څرکــــــــدې که څرګندشو دنغمو په ټن

پېښور کبابیان ۱۳۶۹

# دآزادۍ شمعې ته

دآزادۍ شمعې بلېږه اوځلېږه راته
په تکو سروشونډو موسکۍ شه راته
په هره اوښکه کې خندېږه راته
زه ستا دمینې یولیوال پتنګ یم
زړه مې لوګی شه له تا
او آزاد سرمې نذرانه شه ستا دښکلو لمبو
ستا په لمبو مین یم
ستا په رڼا مین یم
که ستا په سرو لمبو کې لولپه شوم
نودلمبودسره ګنبد لاندې مې غلی پرېږده
پرېږده آرام وکړم
خوړابدې آرام
راباندې جوړ کړه دسرو اوښکو مزار
او په هر ګوټ باندې یې ورپوه
دسرو اوشنولمبو رنګینې جنډې

# دزره کېږدۍ

مادا احساس په دېنته

دغزلونو دګلونو خواکې

د زړه کېږدۍ درته خوره وره کړه

ته په کې اوسه زما مسته زما ښکلیه یاره

په تورو څنو کې کتار لګوه

زمادښکلو غزلونو ګلان

چې دشپې ستورې درنه وشرمېږي

کله ناکله دکېږدۍ ځن کې مخ راباسه

له تکو تورو اوږدو څنونه پلدا جوړوه

دجنتي حورې په څېرتنکې نازونه کوه

دومره خوږه شه راته

لکه په شونډو دیتیم وې غځېدلې موسکا

خو ... یوه خبره زماهم ومنه

دلته به اخلې قدمونه خودمینې په نوم

ته به له خپل حسن نه مسته شې بدمستو به شې

ددې کېږدۍ مراندې به وشوکوې

خدایږو دځان په خاطرنه وایمه

بیابه دناز خوبونه چېرته کوې؟

۲۴/ ۸/ ۱۳۶۸ پېښور، صدربازار

# دموسکاساحل ته

لاله په یوه پښه دي ولاړ د دامانونو په سر
لکه چې پېغلې وې ختلې دماینونو په سر
گلپاڼو غبرګې سره ورکړې پاچهې شوه دګل
نسیمه والوزه دغوڅو غوڅو زړونو په سر
مېن بلبل دهجران غشو په سینه ویشتلی
خوب یې حرام شو دغوټو دبالښتونو په سر
دوزخې تندې ته مې کلکو توبو ماته ورکړه
ساقي سپرلی دی راځه تاوشو دخمونو په سر
زګېر ووکې ځکه نوم دښکلې په وار وار یادوم
دعشق سرودېې مالیکلی دزخمونو په سر
داستان دزلفو راته وایي دچوپتیا په ژبو
هغه ګېډۍ ګېډۍ ببري ددېوالونو په سر
راځۍ منګولو کې غنچې غنچې ګلونه ورکړو
هغوی چې کاڼې ورووې دبهارونو په سر
خدایه! کاروان مې دموسکاساحل ته ورسوه
څپې څپې شو دسرواوښکو دسیندونو په سر

پېښور ۱۳۷۰

# زړه

مه وله ښيښه په کــاڼو مه ولــه
دا پاکه کعبه په کاڼو مه ولـــــه
تږي پاتې تږي دي زاهـده پـــام
ډکه ميکده په کـــاڼو مه ولــــه
څله يې يزدان تـــه په سلګو ليږي
ښکلی پرښته په کاڼو مه ولـــــه
جام کې دې دوينو رنګ ګډکړی دی
اې ساقي !توبه په کاڼو مه ولــه
خدای په غزليزوګوتو جـــوړه ده
پوه شه در دانه پـــه کاڼو مه ولـه
پربرېده چې د ژوند بوراپرې وناځي
دا دګل غنچه په کـــاڼو مه ولـه
چيرته بـــه کاروان دپتنـګانو ځي؟
مړه به شي ډيوه په کــاڼو مه وله

۱۳۷۰        پېښور

# غزل

کړې ورې چې په اغزوکې ويالې وبهيدې
د گل تصوير پسې رڼې ائينې وبهيدې
سرخې دې مسته اننگو کې شوه چې اوروانخلم
زمانه زړه نه دسکوتو چينې وبهيدې
ساقي راځه چې له خمار نه مې زاره وچاوده
ژوندمې درجار که دې سخې ميخانې وبهيدې
شپه به په نن سبا کې ښکلې سبا وزيږوي
لکه شيدې دشپې له تيو سپيدې وبهيدې
دپتنگانو دکاروان تنده يې ماته کړله
دموم لښتيو کې چې پيغلې لمبې وبهيدې

پيښور ۱۳۷۰

# زما د روح د مناری په څوکه

سهې وږمې چې په لمدواوعطر جنو گوتو
د گل غوټیو ډ ډې وتخنوي
له پاڼو پاڼو نه ماشوم خوبونه وتښتوي
چې وچې غوړ کې په یو تاند پېغلتوب وغزېږي
او دمین بلبل له مستې شرابې نغمې نه

حمل واخلي

چې گل کاسې په سر ماشوم گلونه وزېږوي
دوچو وچو خزانونوپه اغزنوزړونو
ارغواني اورونه ولگوي
چې وچ زاهد وچو توبوته بهانې لټوي
دتاك په رگ رگ کې دمیو خزانې لټوي
چې داسمان په شنه دریاب کېلامبوزنه سپوږمۍ
لکه اروا دیوې شهیدې پېغلې
په نوراني منگولو
دشنه داوني له شنې ځولۍ نه ښکلې سپین گلونه

درسولانو دایمان غوندې مهین ګلونه
د چاسینو دوعدې په بوږ نېدونکې څمکه
وورري

چې دسپېدوله هسکو هسکو څوکو
لمر د طلاوو ویلې شوی سېلاب وبهوي
او دتیارو دفرعونانو طلسمونه یوسي
زما دروح دمنارې په څوکه
زما غزل دسپېلنیو په څېرو سوځوی
چې دښکلادقاتلانو په بدرنګو سترګو
مهرونه ولګوي

۱۳۷۰زمی
نریزې تنې

# دورِموبدرگه

خزانه خدای دپاره گل یمه مـــا مه شوکـوه
زماله تاندو گل غوټو نه موسکامه شوکوه
اغزیه پربرده له غنچونه چې مچکې واخلي
تنکي پاسته مـــاسته وزردبورامه شوکـوه
ته خبرنه یې ؟ سترمن سحراوده دی په کې
په پـولادي پنجودزلـفویلدا مـه شوکـوه
دڅو سترګوزیارتونه دې لـیدلي کـنه ؟
دچا سپېڅوشونډوکې پته دعـــامه شوکـوه
دغوټې رنې په شنه خال یې چړې مه لګوه
دښکلاتوب له پاچهۍ نه پاچـامه شوکـوه
هجرانه پربرده چې دیارکلي ته ورســبرې
له مـینانونـه دمـــینې سودا مه شوکـــوه
دشنه اسمان دبحرپیغله دې غوټۍ ووهـــې
دغریبانو له اوږدو شپورنـهـا مه شوکـوه
چې بدرګه یې دورِموځې له کاروانـــه سره
دغزلونوځانـــګه ګل ښـــه ده دامه شوکوه

۱۳٦۹/۱۱/٤ پېښور

# پېغله شوګيره

چې دخمارپه کاږو زړه لکه ښيښه ماتيږي
مابسم الله په ښنلو کړې ده توبه ماتيږي

شوګيره پېغله شوه ارمان ته ځي په سره ډولۍ کې
وينې يې قی کړې دمشرق په څنډوشپه ماتيږي

بياراته ولي دغزل غـزال دنازپـــه غشـو
کړه وړه په کرشمو لکه لــينده مـــاتيږي

دعشق ساحل غبرګې نيولې نه وي بيا ودانګي
ښکلې دسيندمسته څپه ده په ستنه ماتيږي

نسيمه ته خودخزان دسيلۍ چم مه کوه
غوړګې دګلوباڼپه شادي په بانه ماتيږي

خودبه دخيال په تشولېچوياندې سرلګوم
دلبونۍ پېغلې بنګړي غوندې ، وعده ماتيږي

زما په خيري ګربوانه ستا د پنجوقبضه ده
وا پس مې زړه ته دګوهرو قافله ماتيږي

په سريې واچوی ملګرو دغزل پوړنۍ
دسترمنې پښتوخدای مه کړه پرده ماتيږي

ستا د ديدن دتلو سوکاروان په غبرګې نيسه
چې يې تندی ستا ددرشل په دروازه ماتيږي

۱۵/ ۲/ ۹۱پېښور

# د نور چينه

که دميني يونظردې په ماوشي
وچ زړګی به مې دنوريوه چينه شي

جاردې وله مې که غشي دې باڼه شي
پرېږده پرېږده چې لېمه دې په ماسره شي

خداى خبردى چې دې موړپه ديدن شمه
مګرداچې که مې ټول وجود لېمه شي

داوړدوړخنوپه شپه کې مخ ډيوه کړه
هسې نه شوګير وهلي به ړانده شي

ساقي جام ورته د موسکو شونډو راوړه
محفلونه چې ساړه نه شي تاوده شي

دداغونو پسرلی ته مې لړاشه
چې ځيګرمې لاله زارغوندې لمبه شي

دعدم په لوري درومي په موسکا شه
چې دهيلو کاروانونه راستا نه شي

ډيوه مخيه پتنګان دمستې مينې
ښکلوي دې که هرڅو سوې سکاره شي
ښکليه لږخودساحل غاړې ته راشه
چې جذبات مې لکه سيند څپه څپه شي
خندوي به مې کاروان داوښکو هاله
چې دخورلکه امېل په ګرېوانه شي
مستغني به مې کاروان له بدرګوشي
دجانان دنظرغله دې زما ملــه شي

٢٤/ ٣/ ١٣٦٩

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دهندار وماښې

هلته په بڼ کې وه ولاړه دهندار وماښې
هغه چې خدای وه جوړه کړې دښکلا په ګوتو
په دې ښکلوکې ښیښه یې ماښې کې
یوه له نوروکه سپوږمۍ اوسیده
یوه رنګینه دیناګۍ اوسیده
کله به ی هارد سپینو ستورو په ګریوان زنګیده
کله به ی ټال د سروغوټیو په ګلستان زنګیده
په دې ماښۍ کې دنغمو مرغانو ځالې وکړې
له دې ښکلوکې ښیښه یې ماښۍ نه
د پسرلي ورمو ځولۍ ځولۍ عطرونه یوووړل
له دې ماښۍ نه چا مینو له دیدنه لیربز
پترې وهلې کچکولونو یووړل
خودا ماښۍ دغه رنګینه ماښۍ
چې خدای په خپله جوړه کړې وه دمینې په نوم
په غزلیزو ګوتو
چاډکینې په کاڼو وو یشته ذرې ذرې شوه
په دې ماښۍ کې اوسیدونکې سپوږمۍ
تندرونووښیوه تیاره تیاره شوه
د پلوشو وینه یې وڅڅیده مړه ډیوه شوه

۱۹۹۱/۳/۸/۷ پېښور

# رنګين سفر

موږله تنهاکو زړونو
پښتوته پنې جوړې کړې
دژوند سپېره دښته کې منلې وهو
ږدو قدمونه دلحظوپه اغزو
اوموږپه ښکلو مین
ښکلي په ګلو مین
په پسرليو مین
دپسرليو مینانوته ګلونه راوړو
* * *

موږدرنګين سفررنګين ملګري
دپسرليو مینانوته ګلونوپسې
داوږده خوب اودچوپتيا کلي ته ورسيدو
زموږپه کلي پرښتې رپوي
سپينې اوښنې وزرې
موږدرنګينو پسرلو ښکالوته
غلي غوږونه ایښي

۲۵/ ۴/ ۱۹۹۱پېښور

(c) kitabton.com: The Digital Library



# دنظرکدې

لکه دغره له بانډو کلې بارشي
تشې جونګړې يې تنها شي پاتې
داسې زما دسترګو
جونګړې تشې پاتې
ستا دنظر هغه د دوو شپومهاجرې کلې
خداى خبر چېرته لاړې؟
زما دستر ګو دجونګړو دړې خلاصې پاتې
چوپه چپتيا ده تنهايي ده په کې
ستا انتظار ګرځي راګرځي په کې
د هربانه په څوکه
ډيوه داوښکو په سلګو سلګو ده
زما ژوندون خوبې تا
تياره ماښام دى لا اوږدېږي سبا کېږي کله ؟

*په دې تیاروبه سحر کله راځي ؟*
*ستا دنظر کډې به کله راځي ؟*
*ستا د وصال سحر به کله راځي ؟*
*منم چې ستا د نظر کډې خو ، به*
*ډېرې شیبې په رنګینو واړوي*
ډېر پسرلي به ورته شنه شي له خندانه منم
دیرې لیندۍ به ورته ګډې شي په زیراوپه بم
خوهغه زما د ژوبل زړه د پرهرونو ګلان
په یوبهار کې هم موندلی نه شي
هغه زما د نغمو سوزاوګداز
له مطربانو اورېدلای نه شي
نو دنظر کډې دېزر راوله
زه به دستر ګوپه جونګړوکې بیا
د ښکلواوښکو ګلان وروروم
ته دنظرد ډیو و
یولوی کاروان راوله

۲۴/ ٤/ ۱۳٦٥ تنبې د چور کونډې لمن داوبه خور غاړه

# مهاجرې مېنې

څنوته درځي خوآه چې ښېښې دګل تناکې دي
وسوې دخزان په اور جامې دګل تناکې دي
په زخمي بلبله دوصال سندرې وبوله
ماتې کړه پنجرې بکرې وربمې دګل تناکې دي
یټ په کې دحسن آیتونه ژړیدلي دي
ښکل یې کړه په ورو ورو سیپارې دګل تناکې دي
بل کړه داسمان په اور دبلي سپوږمۍ دنور تیلي
سخ دتورروشپو دی چې ډیوې دګل تناکې دي
جوړ په کې غوېمنډ د پولادي آسونو څـله دی؟
نه وینې ؟ ړانده دې؟ چې کو څې دګل تناکې دي
زړه کې مې کاروانه د تناکو خېمې تلک وهـه
مېنې مهاجرې دې خېمې د ګل تـــناکې دي

۱۳۷۰/۸/۲

## سپین کچکول

مړدي کړم ساقي په تشو تــشو بهانــو
اوس مې په کفن کې پټوه دپیـــمانــو
ګورې به چې زړه مې بغاوت کوي کنه ؟
تنده خلاصومــه دخمــارلــه زولــنو
جارله تخیل لکه مــاشوم مې نــازوي
سرېږي زما ایښې داشـــنا پــه ځنګنو
راشه سپین کچکول له شنې کړکۍ رازنګوي
مااوتابه وړي لـــکه دستـــورو ددانـــو
وخت یې ویرکې واغوندي دغم تورې جامې
بس چې افسانه شي د ډیوو د پــروانـــو
جارشمه له ښکلي چې شوښکلی عزرائیل
اخلي رانه ورووړو سترې روح په ترانـو

۲۸/ ۱۰/ ۱۳۷۰خیبرپلازا پېښور

# سپینې سندرې

شرنګا جاري ده اولا چوپه نه ده
دلېونیو په باغې مړونډو
دتورو ، تورو زولنو شرنګا شرنګ
شنه بنګړي شرنګ نه کوي
په سپینو لېچوکې دي غلي ملي
لکه کوچني ماشومان
په زړه کې پټ دشرنګیدوالف ، بې ، تې یادوي
یالکه شنه توتیان په ښکلو څانګو
ناست دي پستې پستې نغمې یادوي
خیردی که ژوند شو ددېوانوزندان
دتورو شپو چوپتیا به تل ماتوو
دتورو ، تورو زولنو په شرنګا
زموږپنجرې ته هره شپه سپینه کوتره راځي
لکه اروا دخوارلسم دسپوږمۍ
دانباپستة ښاپېرۍ
تومبې ګلونه ددې تورو زولنو په کړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه دخدای له خلیفه سره دعشق شاعره
دزولنو په پولادي ذهن کې
سپینې سندرې کري ٠
له مسته شرنګه یه کړی‌کړی‌شي
دلېونیو دمړوند زولنې
په سپینو لېچوکې به شنه بنګړي ټوپونه وکړي
لکه توتیان په ځانګو
شرنګا به بیاجاري شي
دشنوبنګړیو شرنګا

۱۳۷۰/۱۱/۲

# دپرخو تنې

تنې د پرخو دغوټې تیــونه وتــــخنول

پستوورېمولکه ماشوم ګلـــونه وتخنـــول

چېرته مـېن شو په شیرینه ښایسته پسرلی

په فرهادي تېشه یې ښکلي غرونه وتخنول

خدایه ورغوي دصیاد کې تېره غشي مات کړې

دالوت میني دبلبل وزرونـــــــه وتخنول

بیا به دخیال دښاپیرۍ په زنه رېدي خالونه

بیاسرببرو لېونو زخمونه وتخنول

ساقي دچاپه توبه وارپه وارګولۍ ورروي؟

دمیوڅاڅکو ، څاڅکو تش جامونه وتخنول

زاهده پام چې دنغموښامار دي ټک نه وهي

دچنډنې رباب مطرب تارونـــه وتخنـــول

ستا دلېمو مسیحا بیا څه معجزې ورروي ؟

چې دهوس چینجـــو دمړوزړونه وتخنـول

دتورو وربڅو په ژړا پورې یې وخـــندول

لمرپه نوکارو دبوډۍ تهـــالـــونه وتخنول

حوت ۱۳۷۰ پېښور

# زړه وينه

دزړه په سرمې دي څوړلې دهجران تبرګې
په سرومې سره کړل دوصال دتصورانګې
دروح په پاڼه مې په زړه مهاجره وينه
په لبونۍ اوپه شاعره وينه
دعشق په پاکو تورو وليکله
دخپل جانان دابديت سندره
دخدای سپېڅلي خليفه ته دالفت سندره
لامې په زړه کې زړه وينه پاتې
لکه دزړوزعفرانو په څېر
چامې دزړه له مشوانۍ نه قلمونه ډک کړل
له شکرانو نه يې جېبونه ډک ګړل
ساده مينو ته په غوړه اودرنه شکرانه
زما دزړه په زعفرانو تاويزونه ليکې

۲۷/ ۲/ ۱۹۹۲ پېښور/خيبريلازا

# تلوسه

زموږه مینه دجنون سرحد ته ورسیده

اوزموږژړونه دکبانو غوندې

په وچه ژوندنه شي کړای

موږدانګارپه سریوخوب لیدلی

اوموږ دار په سریو خوب لیدلی

څه شو یوسف څه شو ؟؟

ها خپلوورونو څورولی یوسف

هغه په څا کې غورځیدلی یوسف

هغه زموږه دخوبونو پاچا

غواړو دخپلو خوبو غوټې ورته وړاندې کېږدو

اونظرماتي ته یې زړو نه لکه سپاندې کېږدو

چې دتعبیراود مانا په ګوتو

کړي راته خلاصې دخوبونو غوټې

زموږدسوولوو زړو نو غوټې

زموږمینه دجنون سرحدته ورسیده

اوزموږژړونه.دکبانو غوندې

په وچه ژوند نه شي کړای

دلبونو خوبوجانان غواړو

دمینې ورکې قافلې ته یو څاروان غواړو

زموږپه زړوکې نه ځا یېږي ددیدن تلوسه
داتلوسه شوه تلوسه تلوسه
لکه دمستې زلیخا په شانې
ږدي دمستۍاود خمار ګامونه
دیوبې باکه پېغلتوب په درشل
اودازموږدتلوسو زلیخا هره شیبه
ښکلي یوسف ته دوې ملالې سترګې
دسوال څولۍ غوړوي
خوهغه ښکلی یوسف
هغه زموږه دخوبونو پاچا
لکه ښکاري نه ترهېدلی غرڅه منډې اخلي
اودحسینو ا داګانوپه زور
ورته اووه بندې کوټې خلاصیږي
دزلیخا پنجوته
تش دیوسف دکمیس
څیرې لمنه ورځي
اودحسین یوسف دڅیرې لمن
په هرپوتار کې غځېدلي بربنې
دتلوسو داوښکو
دتلوسو دوینو
یو څو رنګین تارونه

۲۲/ ۲/ ۱۹۹۱پېښـور، بورډ

# دګل پاڼو پټي

زه دې په توره شپه کې
د زړه په سرپه يوه اغزنه لښته ووهلم
زما د وينو داري
د يوې د يوې شوې ستا ديون دلارې
ته بې پروا تېرېدې
زما په خوادې يوه موسکي کتنه هم ونه کړه
خوزه په تايم مين
هرڅه زغملى شم خوستا دخوږې مينې توهين
توبه توبه کله کيداى شي د مينو په دين
ما د د ردونو په نيلې ستا بدرګه کوله
دتنهايي په لويه دښته کې مې
يوازې پرې نه ښودې
اوما د ژوبلو احساساتو په تنکيوګوتو
ستا په دې کلك اوډبرين زړګي کې
دخوږې مينې تخم وکرلو
ستا په ځېره کې انقلاب راولم
تاته يومست پسرلنى غوندې شباب راولم
چې داغزيو لښته وسوځوي
اود تيارو داوږدو شپو لاندې
دسپين سبا لېچې راوغزوي
په ژوبل زړه مې دګلپاڼو پټي ولګوي

۹/ ۱۰/ ۳/ ۱۹۹۱ پېښور

# اختر په کیسه نه پوهیږي

دمین زړه اوورك دلبر په کیسه نه پوهیږي
رانه خندا غواړي اختر په کیسه نه پوهیږي

په پېغلو سترګوکې دمینې کرشمې لټوي
دنړیدلي وچ ګودر په کیسه نه پوهیږي

غواړي چې مست شي په شرابو باندې ولمبیږي
خولېونی دمات ساغر په کیسه نه پوهیږي

ملګرو خود به اوس داوښکو ډیوې بلې ساتو
دشپې واکمن دسپین سحر په کیسه نه پوهیږي

چامې په خوله باندې مهرونه دسکوت وهلي
یارمې پاګل شودنظر په کیسه نه پوهیږي

چې مې کچکول کړې ورته سترګې موسکی ولې نه شو
ښکلي مغرور دقلندر په کیسه نه پوهیږي

کاروانه څو به ګیله من ګرځې لړداخوواوره
بې قدرۍ وخت دی دهنر په کیسه نه پوهیږي

٤/ ١٣٦٩ داختر شپې ورځې، تنې، دچورکونډي ځنګل لمن

# ژوندي ګلونه

سترګې دې پرېږده چې شيندي ګلونه
ډېرمې يادېږي داژوندي ګلونه

ستا دکړو ښو په شپول کې راګير
لکه اغزيو کې قيدي ګلونه

زه دجانان ددر په کاڼو مين
پرپرېدیء چې ښکل کړم په تندي ګلونه

په تورو څڼو کې يې ډېرلګوه
شته مې دزړه په مات کودي ګلونه

نن که په ژوند کې راته موسکه نه شوې
سبا به راوړې د ريدي ګلونه

ډېرې وعدې دې په بانه وخوړې
په کار مې نه دي دار دي ګلونه

کاروانه زه ورته حيران پاتې يم
چې دادچا دغزل دي ګلونه

۱۳۶۹/۳/۲۵

# داشنا هینه

سحرمابنام یې په سوالونو غواړم
ښکلي اشنا په زیار تونو غواړم
لکه شبنم یې منت بارشومــه زه
گل نه مچکې په لعلونو غــواړم
ستا په درشل کې خوتش بدلیدل شي
خیرد دیدن په کچکولونو غواړم
بهاریه څه کړمه بې تانه صــــنم
زه خو رونق دبهــــارونو غــواړم
مـین زړگي مې وچ کودي نیــولی
بیادې په ډکو گودرونو غـــــواړم
په ورځ مې هیرنه یې باور دې و شه
په نیمه شپه دې په نفلـونو غواړم
چې په کې ستـامینه ونه سوځېږي
مرهم په سوو پــرهــرونو غــواړم
راشه چې خولــه په خوله دې ووینمه
څو به دې کیف له تصویرونو غواړم
چې مې څپې په هرغزل کې وکړې
لکه شراب دې په مو جونو غــواړم
هجران مې ټول وجود ذرې ذرې کړ
اوس به یې چېرته په ملکونو غواړم
کاروان که ستا مینه ترې وایستــله
زړه یې سوری په خنجرونو غــواړم

۱۳۶۹/٤/۲۲

اهدا: زموږدکلي یوې بورې مورته چې دوه زلمي مجاهدزامن یې په یوه ورځ شهیدان شول .

## دوه څاڅکي اوښکې

له یوزړګي نه راوتلې دوې ټوټې پرتې دي
جدا له سترګو دوې دسرو اوښکو قطرې پرتې دي

ته واچې دوې دشهیدانو جنازې پرتې دي
په سره کفن کې دځیګرپه وینو سرې پرتې دي

غواړي چې یورته فریادونه عرش ته ورسوي
دخدای(ج) په درکې په سجدو دوې پرښتې پرتې دي

چې دارمان په اننګوکې یې ډیوې کړې بلې
دژوند په کلي کې دهیلو هدیرې پرتې دي

چیرته نغمه دکوم بلبل به وي خزان ځپلي
چې په ماتم کې یې دسروګلو غنچې پرتې دي

په دې ډیوډبرې لمبې دبېلتا نه شوې تېرې
د پتنګانو په وصال پسې ړندې پرتې دي

د خاموشۍ په سلو ژبو ژبغراندې راته
نوره کې څه دي دخواره وطن کیسې پرتې دي

د خوشالۍ ټکرې ترې یوړل دهجران سیلیو
دهیلو ناوې دي بربنډې بې پردې پرتې دي

خدای(ج) خبر ولې یې اسمان په زړه ماتم وروي ؟
لکه خېمې دمهاجرمراندې یې پرې پرتې دي

دجهان ترورپرې دعمرتندې ماتې کړلې
په خپله ترې دي خوترو ته چینې پرتې دي

۱۳۶۹/۴/۵

# دتړو ساغر

دزړه شیشه مې چې په کاڼو ستمګرماتوي
ولې له ترونه دمینې ډك ساغرماتوي ؟
دنظرماتې سپیلنی شومه دعشق په لمبو
رانه تاویږي دې که یارپه مانظرماتوي
اوس که مهجوره غوټۍ پټه ده دشپوپه تکري
مېین بلبل سره به سترپه سحرماتوي
ګورۍ پېزوان یې درمانګرشو د زیبنلوزړونو
په ښکلو وړانګوکې زېړی دمازدیګرماتوي
راته موسکۍ شه اونغمه رانه دمینې غواړه
چې وچ زړګی مې کله تنده په ګودرماتوي
مینه ژوندۍ ده مینه نه مري په دیدار مینو
دښمن د مینې که کچکول دقلندرماتوي
غبرګې به راوړي دچنډو جنتي خوشبويي
شینکی طوطي به پنجرې په خپل وزرماتوي
سبا به خامخا کاروان په مات تندي ښکلوي
نن که جانان راته د درپه کاڼو سرماتوی

۱٦/٤/۱۳٦۹تنی وړی خیسوره

# دشپو نهنگ

دګل په قبریې جنډې کړې دبورا وزرې
دزړه فریاد مې کوي عرش ته د دعا وزرې

د یارپه درکې رقیبانودومره وویشتلو
چې له کچکول سره شوې ماتې د ګداوزرې

شوه غلبه دشیطانانو دانسان په مینه
لرځو خپرې کړه جبرئیله په دنیا وزرې

رلی داوښکو د ژوند ون په مارغه ووریده
اوس یې پرواز ته نه جوړیږې دخندا وزرې

خدایه رنځوره ښکلې بیا کړې دښکلاوومیره
چې مې ړانده نظرته ورکړې درنړا وزرې

موږیې په تشو ګوګلوکې زړونه ونښتپځل
ګوندې زموږدیوې هم وکړې دبریښنا وزرې

دشپونهنګ به کله ووژني د نور په نېزو
سحرچې وغځوي سیندکې دطلاوزرې

۱۹/ ۲/ ۱۹۹۱ پېښور

# دشهید محبوبیا

پرون یې غېږله گلوډکه وړه دیا رله پـــاره
نن یې گلونه شوکول خو دمزارله پـــــاره
دورك پتنگ دبیـــالـــیدودانتـظارله پاره
ژړانده شمع وه دحشر دســهار لــه پـــاره
د پرون سروه نــــن وهلــه دخزان سیلیو
لکه جنډه په رپیدو وه د یادگارلــــه پاره
لکه بلبله چې په غشویې سیـــنه ولـگي
ژبه یې نه شوه جوړولی دچغـارله پـــاره
د ناو ې توب داسره جوړه.ورته داورجوړه وه
ژوندون یې څه وو؟ قیامت وو د دیدار له پاره
ناڅاپه سرې سترگې یې پورته کړی دهسك په لوري
د غم ناره یې کړه د لوی پروردگارله پاره
وې! چې پرون به یو منصوردحق په چیغو سرو
نن سل سرونه اناالحق وایي د دار لــه پاره
قافله تارپه تارپرته ده ولې نـــه رادرومي؟
څومره دزړونوگلان توی شول دسالارله پاره
مورړد دا غلو ځیگرونـــو ده ډالی راوړې
د آزادۍ د یوه ښکلي لاله زار لــه پـــاره
زړه یې دسترگو د اسمان پـــه لاره وروړاوه
د خپل محبوب د خاطراتو د بهار له پاره

۱۳۶۹/۲/۲۶

# ډیوې

داضطراب په سیلۍ مړې شوې دسکون ډیوې

اوس به په شپوکې بلوو دځیګرخون ډیوې

سرته مې ایښې تصورواورینې لېچې وې خو

په لمبو ویلې کړې د"اصل" دبېلتون ډیوې

ستا په اوره زغملی نه شم دمرګ یخ لاسونه

خدای(ج) دې توده لره د ښکلو د ژوند ون ډیوې

ته خوډیوه دسوولوویې بدله نه شوې

که د لمبو سالو دې سوروي که زرغون ډیوې

پتنګه هلته دې راتګ توهین دمینې ګڼم

چې سروي ایښی د مرګوتې په ځنګون ډیوې

پرخه ، ګلاب مې هم په زړه لکه چړې لګېږي

چې د دلبرپه اننګو مې کوي یون ډیوې

موړلاروي یو دمحل ډیوې موخه پېژني

زموږ کاروان به ښکلوي دسباوون ډیوې

۳/ ۲/ ۱۹۹۱ پېښور

# بنګالو

زه خوبونو وړی نه وم
خوب له مانه مرورو
ستا دهجرتبروغشو
په دوو سترګو و ویشتلی
و، له درده تښتیدلی
دوحشي غزال په شانته
دعدم ځنګل کې پروت و
* * * *

ماساقي لیدلی نه و
زما تنده ماته نه وه
ماکنډول تش کړی نه و
ستاد یاد جنتي ګوتو
زما سترګې پټولې
تصوردي راته غېږوه غوړولې
څه پسته وریښمینه غېږوه
په خمارلړلي خوب ته مې زړه وشو
تصبوره ! ستا د" اصل " موسکیتوب ته مې زړه وشو
خدایه داڅه لیونتوب ته مې زړه وشو

زما زړه هم لیونی دی
په سکروټو په اغزوکې
دارام خوبونه غواړي

* * * *

له مستی‌اوله خماره
عجیبه شوم بېکاره
خدایه مانه لیده لاره
په سکروټوکې پښې یېلې
ګډیدمه تلمه تلمه
مستغني وم ستا په یاد کې
له ګلونو له ګلزاره
یومنصوردي رانه جوړو
ډارمې نه کیده له داره
په بارباز مې یادولې
زما عشقه زمایاره
په تندي باندې مې ښکل کړل
ستاد درکانې په مینه
دښکلا ګل ته مې ورکړه
په هدیه کې تانده وینه

* * *

شوګیرې شوې چتې پېغلې
دارمان ژبې اوده وو
هغه ستا دحسن ګلې
هازما دمینې ګلې
پروت و، داسې غلې ملې
لکه پروت دچاګمنام شهید مزاروي
پرښتوپرې دشینکي اسمان شین شال وي غوړولی
دسپوږمۍ وړانګنه شمع
ورته څل وهي بلیږي
چې له تاویې سپینې اوښکې
لکه ستوري رابهیږي

* * * *

دنسیم یوه پستوکې څپه راشي
د مشکینو څنو بوی یې
په څولۍ کې وي راوړي
لکه خدای(ج) په قدرتونو
پسرلی وي راتول کړی
پرښتو په یوه غوټۍ کې وي راوړی
لیونوته یې ډالۍ کې وي راوړی
یوه څه خوږه نشه وه
څه خوږې جوتې یې راکړې

څه ښکالومې واوریدله
د ختیز لوري ته ګورم
دتنکي لمر په سالو کې پته پته
دخوبونو شهزادګۍ مې
په موسکاموسکا رادرومي
رانږدې شي و درېږي
دتنکي لمر په سالوکې
اودتورو وربېڅو لاندې
لکه ګل راته موسکۍ شي
زماسترګې بوراګان شي
دنظروزرې وکړي
له حسینې ګل کعبې نه
طوافونه کوي چورلې
خو ای کاش چې مې په ښنو کې
وي پراته لکه مارونه
دطلسم زنځیرونه
دخوبونو شهزادګۍ مې
داسې وتښتي له سترګو
لکه خوب دپرهرژلو

قوس ۱۳۶۹ تنې

# ژه اوته

زه دارمان له قافلې نه پاتې
د محبت له کلي لرې يوجهان لرې
په يوه اغزنه په يوه سوئ دښته
د درد له ناوې سره
په وينه شپې تېروم
د مرګي وږي سپي چاپېردي رانه غپي راته
د زغم په لاس کې مې چاره دمجبورۍ نيولې
دژوند له غوښونه مې
سپيوته بو تې نيولې
اود دردناوې ته دسرو وينو خالونه ږدمه
څوته
لکه دتېرو زمانو افسانوي شهزاده
دښاپېريانو درنګينو داستانونواتل
د پولادي مستو دېوانو دلښکرو سالار
زما په خواکې دبرېښنا په نيلي سپورتبرېږي
دنيلي شغ لکه دتندرآواز
زمادسرزما دزړه غوږونه ولړزوي
دزړه سالومې داحساس په ګوتو

د درد ، د ناوې په سروغوړوم
پاس دفضا په هاتفي شونډوکې
یودرد وونکی شان سرود خوروي
لکه دیوې زړې غمجنې کونډې
یوکړیدلی سرود
د پیغلتوب په خاطرو باندې لړلی سرود
خوداسرود د تندرونو په آواز کې ورك شي
ته مې په خواکې په یو نوي نیلي سپورتېږېږي
اوزه
ستا د نظرله هغه لوړاووپوړیزه بامه
لاندې راولویدمه
د درد په ناوې سور سالو غوړوم

۲۸/ ۳/ ۱۳۷۰پېښور

# غزل

ډېريې چې د هجرخزانونه وليدل
ما د ګل په سترګوکې ګلونه وليدل
پاتې وو وزرونه له بورانه په اغزو
مادګل په قبر بير غونه و ليدل
پخې يې چړې کړه چې لړمينه شي موسکی
کوردمينې ړنګ دی غوځ مې زړونه وليدل
خدايه ! يو رښتيا کړه چې شودواړه غبرپه غبر
د پرمې دجانان په باب خو بو نه وليدل
اوښکې يې په غاړه لکه پېغلې پنډې دي
جوړمې په لېمو کې ګودرونه وليدل
څومره چې دښکلو شنه خالونه ډېرېدل
دو مره مې په خپل ځيګرداغونه وليدل
څنې شوکوي په مخ نوکارې لګوي
ماداسې دېوان داسې لاسونه وليدل

۳/ ۱۱/ ۱۳٦۹ پېښور

# مهاجر لاسونه

زموږ مهجوروخولړوګــوره پـــالي لاسونه
چې تاویه نه شي له صنم نه داخالي لاسونه ؟

حسن موډېرپه نښتیځـــلو زړونو ولمبـــاوه
زموږ په وینو سره ترلېچوودسپرلي لاســـونــه

په دې ګناه چې دسپوږمۍ نورته یې لپې نیوې
غوڅ شول په بېخ کې دسپېدارتنکي خیالي لا سونه

زما دمینې کلی ړنګ په دیوالګوېې پراته
له تورپېکي درالویدلي کشمالي لاسونه

پرېوت داکبر پا چادرباركې دشهۍ پوړنی
د زنځیرونوماران خوري دتوردلي لاسونه

د ګل په قبرېې جنډې دیادګارونو رپي
دتوربورا ځیري وزرونه دمالي لاسونه

دجهنم دشپواوږده تنده مووګالله
سبا اوږده کړه دلمرجام ته ګلالي لاسونه

۱۳۷۰ پېښور

# شنه شالونه

له پېغلو سروو نه لمبوکې سوي شنه شالونه
سپرلیه راشه چې له غیبه شي راشنه شالونه
دکشمالو شمال دخنو شپوکې شپه ونه کړه
له شوم سحرنه مروردي مېلمانه شالونه
مسیحا راشه په تار تار کې یې ساوغزوه
دمرگ په بت ساړه پراته دژوندانه شالونه
په نا اشنا وطن کې دېر په زړه را وورې اشنا
سرته مې ایښی دی ستا خیال په څنگا نه شالونه
شوگیرځپلې سترگې څه ملال خوبونه گوري ؟
پراته په سرېې غشي غشي که بانه شالونه؟
ښبتنه څوبه چنگېزي پنجې کوځې شوکوي ؟
مغل اسونه پښوکې مړي.پښتانه شالونه
په شال مینوزړونه وشیندل په شال په شمله
جنډې جنډې رېې په غره په دامانه شالونه
د زړه جرس دشبېن خالوکاروان ته وشرنگوه
چې د مایه له غاړو تاوکړي اوښبانه شالونه

۲۳/ ۹/ ۱۹۹۱دتنیو غرونه

## دسترگو گودرونه

ښکلو مې که زړه کې خنجرونه وکړل
ما په هر پرهرکې بهارونه وکړل
داداوښکو تخم چې ډيوې راشـــنې کوي
چاپه تورماښام کې سهــــارونه وکړل؟
نن چې دسپوږمۍ څولۍ کې ستورې ټولوم
ګورې به سبا چې مې لمرونه وکړل
پام ! په منصورې رنګين ګناه يمه مـين
رامې شي خندا چې تادارونه وکړل
وابه ورې درخومستې نغمې دمحبت
بيا دادم ګوتو شا تارونه وکړل
سپينې مرغه کې به تورو غرونوته راځي
تورو که څومينه کې تــورونه وکړل
ناوې دموسکا ته به شالونه کړې راشــنه
خيرکه مې دبڼه ګرېوان تارونه وکړل
ماتې به شي تندې دمودوپه يـــونظر
سترګو که په زړونـــو ګودرونه وکړل
جوړمې کړود. درد سترې کاروان ته دمه ځای
ماد ژوند په شاړه کې شعرونه وکړل

پېښور ٤/ اکتوبر/ ۱۹۹۱

# دسندروجامې

تالاترغه شوه ستاموسکا ستا دخبروجامې
اوښکې سنگې مې شوې جانانه دسندرو جامې

دجادوغشې شوکوې دشنو کوتروجامـــې
دېوانو یوورې ساېبرونه دوزروجــــامې

څه شوسپرلی چې په کې تک وهو دمینې کېږدۍ؟
څوبه شکوې تېره اغزي له څونډوروجـــامې

خنډوهه خنې چې غرڅې غوندې خوب ترپ ووهي
ورمونه واغونده دمشکو دعنبروجــــامې

هغه مـین مازدیگری مې په زړگې وریـــږي
طلا یې لمربه چې مینځلې په گودرو جـامې

مینه نورڅه ده دژوندون دمرغلرې یـو آب
بدرنگه ولې ماتوې دمرغلرو جامې

چې په لمن اوپه گرېوان کې سرحدونه ړنگ شول
شي به جنډې دلېونو او ببرسروجامې

دسهرابې نظرکاروان مې لېونی شو درڅـــې
که ستا دسترگو رستم واغوستې دزغروجامې

پېښور ۱۳۷۰/۶/۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تنهاکي

ګوتې تـــــنهاکې په زړه هم تـــــنهاکـــې
څه چې لـــــــیکم شې په قلم تنـــهاکې
ورمې ړندې وې خدای زده چېرته لاړې؟
دګل په سترګو د شبنم تنهاکې
دلېمو فرش مې ورته وغوړو ی ء
هسې نه پښې شي دصنم تنهاکې
مانه سپېرې صحرا سپرلي وغوښــــتل
اوس په اغزوکې لوبوم تنـــهاکې
دردمې دعشق رباب کې خـــالې وکړې
په زیر تنهاکې اوپه بم تنهاکې

۱۲/ ٤/ ۱۳۷۰ تنې دنریزي کلی

# خمار

دگرېوانه په تاردانه دانه شـــــو
ساقي راځه خماردانـه دانه شــو
ستا درنځوروم‌ړاوو سترګو په نوم
زمادزړه اناردانــــه دانـــــه شــو
راځه په بام تول کړو دستورو ګوهر
دهسك دپېـغلې هاردانه دانه شو
نظرمې ستادا ننګو په خــوکــو
لمرو په سپین سهاردانه دانــــه شو
له سپېلنیو درمـــندونه ډك شـــول
دمحبت انګاردانــــــه دانـــــه شـو
زاهد په سلوتسپــــوورویشتـــــه
ښه شوچې بیایې واردانه دانه شـو
پښې یېلې راغی د څړوپه څوکو
ستا په درشل بهاردانـه دانـه شــو
ترې کاروان ته لېې جـام جــوړوه
که دمنګو کتار دانه دانـــــه شــو

پېښور ۱۳۷۰/۳/٤

# دختن تلوسه

لامې لېمې په اوښکو مستې نـه دي
دسلګو غوټې مې پرانستې نــه دي
په تا آيت دموسکا کـله راځــــي ؟
ماستادخولې سيپارې لوستې نه دي
دزړګي تاك يې راتــه ونښتيــځه
چاوې نغمې مې مې پرستـې نه دي ؟
زما زلمي نظرته نــاوې نـــه شوې
سترګو دې سرې جامې اغوستې نه دي
زړګيه خال شه په تخت وګرځه يــرغمل
دِ وروزو تورې يې پيوستې نـه دي
دښته دخيال مې تلوسه دختــــن
ورکې هوسې لاچاراوستــې نه دي

حمل / ۱۳۷۱/ پېښورخيبرپلازا

# شهيدې پرښتې

دسمنګان شهزادګۍ کونډې دستم د لاسه
هريو سهراب موسورپه وينو درستم دلاسه

رابعې وينې کړې دبلخ په حمامونو غـزل
يکتاشه راشه ستا د مينې د پرتـم دلاسـه

دشيطان غشوکړې شهيدې پاکيزه پرښتې
ګلونو څوړندې جنډې کړې دمــاتم دلاسه

دجهنم دروازې خلاصې دي سپرغۍ وريږي
دغوټۍ ژوند په اغزوپربووت دشبنم دلاسه

سهاره راشه دروحونو پـتنګان مووسـول
ديوې دزړ ونو موبـليږي دتـورتـم دلاسه

دخيال مرمرراباندې وتراشل دميـــنې هنر
دهجران کرښې ورانوو دخپل صنم دلاسـه

په هرپرهرکې مود درد مرغانو ځالې وکړې
چرې موښخې په پرهرد بې مرهم د لاســه

درخواووه پوړنې لرې کړه له ښکلې مخـه
پرپرده چې مستې نغمې واورو د ادم دلاسه

حمل / ۱۳۷۱ پېښور، خيبرپلازا

# د رې ښاغلي وينه

منم چې لمربه نن سبا په هوسناکو ګوتو
دوچوڅانګو په سرورګوکې
د پېغلتوب په خوب اوده تلوسه وتخنوي
دبادامي سترګو دښکلي انتظار په خبربه
پاسته پاسته سپېڅلي سپين ګلونه وخندوي
اومستانه سپرلی به راشي لکه
دشهنشاه دربارته شنه چپن په غاړه قاضي
درنګينې تسپې په لاس کې له خپل ځانه راضي
اودوړمو په لاس به سپړي دګلپاڼو دفتر
په هره پاڼه به احکام ګوري دحال اوماضي
چې کله ووينې به هره پاڼه
دبلبلانو په نغمو لړلې
درې ، درې کنډوکي څڅېدلې وينه
ترخه خندا به وکړي وبه وايي
څومره زلميو بلبلانو له نکاح سره سم
دنيم بسملو تسرانو په ژبه
دپولادي غشو په سرولاسونو
دژوندګلپېغلوناوکيو ته طلاق ورکړی

۱۹۹۲/۲/۱۸ خيبرپلازا پېښور

# په جانان مېن

پرېږدئ چې په دارمې کړي دځان مېن

وایمه چې یمه په جانان مېن

وینې داحساس مې ښکلې نه غواړي

مورشوپه غمیو د پېزوان مېن

ستن مې کړقلم تارېې غزل غزل

شوم دلبونیو په گرېوان مېن

خدایه نه راځي عزیز دمصرشو

دابه یوسف نه وي په کنعان مېن

هسې نه چې تق زاره یې وچوي

لږخوشه وصاله په هجران مېن

مه ما توه زړونه خولعلو نه دي

ځله زړ و ې په بدخشان مېن

بس دی بلبلان په غشو مه ولئ

پرېږدئ په لاله په ارغوان مېن

وایم چې خزان دې هېو نه لیدای

دومره دې یم گله په ارمان مېن

زړه دې رانه یووړاو جرس دې کړ

ښکلیه اوس به خودشې په کاروان مېن

۱۳٦۹/تنبي دچورکوټې دځنگل لمن

# پاخه زګېروي

دغشو باد په ديوالونو ببـري وشـــوكـول
ښکلويې څومره په ماتم کې پيکي.وشوکول
دديدارتږی مجنون څه وکړي په کومه لاړشي؟؟
چا، دليلا له قافلې نه ګونګري وشوکـــول
راڅیء خولیږدسليمان په سرکړو ناوې يې کړو
دېو، دارم له ښاپېری نه څوندي وشوکـــول
دزړه توتې مې ستا ديدن ته له بنو کوزې کړي
ما،له توتې توتې کچکول نه پترې وشوکـول
حسنه نظردوږو سترګو په تا هيڅ نه شي کړای
تاته مي عشق يوه بکوا سپېلني وشوکـــول
دخوبولودکاروان ښېرې مې واخېستـــــلې
له څيګر خون مې پاخه شوي زګېروي وشوکول

۱۱/ ۳/ ۱۳۷۰ پېښور

# سیندوکی

هلته یو سیندوکي غوږولي ده څولۍ
داسې ښا یستوکي لکه مینه دسپوږمۍ
کړي نری خپې یې له یو بل سره مستۍ
لېچې سره تاوکړي لکه پیغلې جینکۍ

* * *

شوریې دومره خوږ لکه نغمې وي دجنت
څاڅي یې له څاڅکي څاڅکي مینه محبت
وګورۍ انځورته یې هنداره شو فطرت
ناڅي په کې ناڅې د ښکلاوو قیامت
ایښې پرښتو ورته په بم په زېرلیندۍ
داسې ښایستوکي لکه مینه دسپوږمۍ

* * *

ښکلې څوکیدار یې دی په غاړه هریوګل
هره پېلوشه یې دیوسف دخوبو ځل
بندې پرې مچې دي لکه توري دغزل
یا یوتخیل چې څوڅو ځله شي صیقل
پالې پالې ورشي ورته ودرېږي په ژۍ
کړي نری خپې یې له یوبل سره مستۍ

* * *

اچــوي پــه غــاړه يې بلبل دنغمــو تړال
کيف يې په نغمــو کې د داوُد او دبلال
خوري خوربې تالي کله په سر کله پا تاله
کلـه دجمـــال په غبرکـــې کله دجلال
مسته شي اووه شالـــونه واچوي غوتۍ
لبچې سره تاوکـــري لکه پيغلې جينکۍ
داښکلي سيندوکي دادخداى دفـن شهکـار
دې کـــې خداى ځاى کړى دنغمو يومست ابشار
ناست يې دى په غاړه يو شاعر مست اوخمار
دى تـــرانې مينځې دربــاب اودستار
پټې لــه دپوانو ورتـــه راشي ښاپيرۍ
لـــوځې شي د «پړ» دجــامو وشلوي تنۍ
سرې سپينې مهينې لکـــه وي دنوربيرۍ
هلتـــه يو سيندوکي غـــوړولي ده ځولۍ
داسې ښايستوکى لکـــه مينه دسپوږمۍ
کړې نــــرۍ ځپې يې له يو بل سره مستۍ
لبچې ســـره تـــاوکړې لکه پيغلې جينکۍ

پيښور خيبر پلازا ۱۳۷۱/۱/۳

# دژوند پردېس او داسمان ښاپېرۍ

خدایه زما د زړه په وچه دښته
تاخوړیاران دعشق راو وراوه
دا وچه دښته شوه په ګلوټه
ماددې دښتې دګلونو منځ کې
د ژوند پردېس ته له غونچو نه ګره جونګره جوړه
په دې ګلونو کې به رغښتې تل دخیال غرځنۍ
ورته راتلې لکه دمستو غزلونو توري
دښکلو ښکلو زمزمو سره دشاتو مچۍ
ته به خبروې خدایه !
ستا له فردوس نه به راتله یوه ښایسته ښاپېرۍ
چې لمبېدلې به تازه وه دکوثر په میو
په سپینه غاړه یې امېل دجنتي غمیو
دنور پښو کې ګر ځیده په نازدګلو منځ کې
دشیطانانو له تهمت نه باغي
دپېغلتوب نشوکې ډوبه ډوبه
دژوند پردېس ته یې مچکې ورکړې

په توده غېږه کې يې کلك ونيوه
دژوند پردېس يې طلايي ځنو کې
کتارکتار گلونه ولګول
دواړو يو بل سره دميني مزي وغځول
خوداتنکۍ مينه پخه لانه وه
چې شيطاني خزان دللمې گلان وربېژول
د ژوند پردېس مې دگلونو په ځای
اوس داغزيو په کوډل کې اوسي
اوهره شپه په ښاپېرۍ پسې اسمان ته خېږي
دشنه اسمان په چړپيدلي سيندکې
دسپينو ستورود سپين کاڼو په سر
په ييلو ښنو گرځي د ښکلې ښاپېرۍ په لټون
له پاسه غږ راځي فرياد راځي او چيغې راځي
خدايه ازاده کړې د ژوند ددې پردېس معشوقه
د شپودېوان يې چې شهيده نه کړي
چې يوه ځولۍ دځراغونو راوړي
چې بيا ښايست دسهارونو راوړي

پېښور ۲۱/۱۲/۱۹۹۱

# د زړونو ژبه

زه لاکوچنی وم چې دسپینې سپوږمۍ
په سترګکو پوهېدم
دنیمو شپو دبلبلانو په نغمو پوهیدم
زه د مچیو د سرود په زیروبم پوهیږم
مادمـینو زړونو ژبه زده ده
داسې پسته مسته ده
لکه د شاتو دمچو ما لکه
زه دغزل په ګوتو
تنۍ دپرخې خلاصومه دغوټۍ دګمیس
زه له ګلپاڼو سره رازلرمه
دخوشبو یې په ژبه ښه پوهیږم
زه او ورمه چې چېرته لارکې سره مخ په مخ شو
خه غلي غلي سره ومو سیږو
دمایه اوښ دڅهوه یي اوسور بخو نو سترګو

دغتو اوښکو په اینو کې وینم
دلوټ کاروان دورك څاروان دتصویر ونو جهان
زه د ټاګورګیتا نجلې سره سندرې وایم
دسپینو اوښکو په سپېڅلې ژبه
هرې سندرې ته په نذرکې زړګی ورکوم
زه د مجنون خړې خېمې ته زړه کې ځای ورکوم
څیرې لمن یې لکه پاڼه د قرآن ښکلوم
په هریو تارېې دلیلا دعشق داستان ښکلوم
خوته !
دزرین تخت د پاسه ناسته اې دبخت شهزاده
ولې د زړونو په روانه ژبه نه پوهیږې ؟

پېښور خیبر پلازا ۸/ ۱/ ۱۹۹۲

# یاغي بلبل

ته مې په غشو وله
خوزه په شنو پاڼوکې نه پټیږم
زه په بربنډو غوړګو
دنغمو ټال زنګوم
ته مې په غشو وله
خوزه د ، درد په خوږو نه مړېږم
زه په سندروکې جمال زنګوم
زه یو مین یو لېونی اریو سرمسته بلبل
د ډارورنکې چو پټیا
دغوړېږدې په یاغي چیغو شلوم
خدای مې شیندلي دي په زړه کې دنغمو تخمونه
ته مې په غشوروله

زه دنغمو د پاخه فصل ګډوم لوونه
د طلایي هلال په لور ، د ځلیدو نکو ستورو
دښکلي سیوري لاندې
ګېډۍ ، ګېډۍ یې ږدم دګل په درمند ونو باندې
ته مې په غشو وله
خوزه په سوو لوغړنو وینو
پېغلو غوټو ته ورکومه غسل
اودتنکي پېغلتوب
مبارکي ورکوم

پېښور ۱۳/۱۱/۱۹۹۱

# دغزل تږی

زه دمابنام په گوټ کې غلی ناست یم
یمه غزل ته داسې تږی یمه
لکه داوري روژتي او لالهانده بزگر
چې دخواره او بلالي اذان یو تاندانتظار
په وچ زړگي تېروي
خیال یې د زړه په سوځېدلي ځمکه
دتورو غرو سپینې چینې بهوي
مانن سهار د لمر له سرې مشوانۍ
دتخیل قلم کې واچول زرین رنگونه
چې پرې رنگینه مستانه غزله
پاس په اسمان کې د سپوږمۍ په پانه ولیکمه
اې له رنگینو غزلونو ښکلیه !
اې دالهام الهې !
ستادوربښمینو پښو پسته ښکالو به کله راځي ؟
له ما شعریت لکه مارغه الوتی
راشه چې پاڅې مې د زړه له ستوني
د بدرنگۍ بې هنرۍ خپسې
زه د رنگینو غزلونو تږی
ستا دموسکا دآیتونو تږی
تا ته بیگا دغزلونو مولۍ
وایه ! زما په باب کې هېڅ ونه وې ؟

۱۳۷۱ پېښور

# ستړی کاروان

خدایه ! د ګل کړې یې قدم قدم کې واړوه
ستړی شو کاروان دښاپیروارم کې واړوه

ښاخکي ښاخکي توی شو خال دغونډو غونډو زنوشو
نور خو دانا سوردمحبت مرهم کې واړوه

ښکلوته مې واوروه چې شمعو غوندې و یلي شي
زه دسوز غزل یم ما په زیروبم کې واړوه

لړمې داغربیه مینه کاږو زړو ته وروله
یاد مې لکه اوښکې دلیمو په چم کې واړوه

زلفې تورتمونه غرونه کنډوونه شول
زه دسبا ترې ما په پیچ وخم کې واړوه

باغ چې دشیریني د الفت په اوبو ولامبې
غر د بیلتانه په فرهادي اړم کې واړوه

مانه غلو اغزیو دتیا کو پټې یتې کړې
اوس مې لوټ کاروان د پسرلو حرم کې واړوه

۱۳۷۰ پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

اننگي يې دومره سره په څه سبب دي ؟
عجيبه ده جنتونه په غضب دي
ښکلي مخ ته خامخا سترګې ور اوړي
بوراګان خو دګلونو په مذهب دي
دريا زاهدان سپي د دوزخونو
شاعران خو شاګردان دښکلي رب دي
وې يې سترګې مې درياب دي دروموه وړې دي
ماوې نه څم عادتونه مې د کب دي
ستا بانه مې د زړه جيب کې وهې ګوتې
لکه شوخ ماشومان څومره بې ادب دي

پېښور، سرطان ۱۳۷۱

# غزل

په زړه مې ولې راوربېږي څه باران خــونه يې
هسې مې درد راو يښوي ګرانه درمان خونه يې

دمخ په پاڼه به دې څه خوږه غزله لـــيك وي
سپينه كتابه يادوم دې دومره ګران خونـــه يې

دخيال هدهد دې څومره ګڼ ګڼ پيغامونه راوړي
دامې خطا وه چې ويل مې سليمان خونه يې

مابه بې وخته ليونى كړې په اغزو به ګرځم
غبربه رانه كړې ښكليه باغه بيابان خونه يې

دژوند دوج ساحل په مخ مې لمدې شونډې نه ږدې
ښنه سمندره زه دې څه كړمه توپان خونه يې

دنور په غشو مې له هسك نه په لېمو كې ولې
نه راځې ستورې داسمان شوې مهربان خونه يې

ښكليه سالار مې كه دعشق دمنزلونونه كړې
بيا راته وايه چې د رواغ وايې كاروان خـونه يې

پېښور ، عقرب ۱۳۷۰

# گوره چې هېردې نه شم

ته به مانه پېژنې
خوزما روح درسره مينه کوي
زما د لوړ تخيل نوح درسره مينه کوي
چې دتيارو توپان په څمکه راشي
دهسك درياب ته دې راوخېږوي
ماسره يو ځای دې دستورو په گوهرو پسې
دسپوږمۍ سپينه نوراني بېړۍ کې وگرځوي
ستا په پاسته ورغوي وليکم دمينې غزل
«گوره چې هېردې نه شم»
دايې وروستۍ مسره وي
ته د ماشومي غوندی وتخنيږې
اوله خندانه شنه شې
ستا له خندا سره بېړۍ ساحل ته ورسيږي
او دتياروتوپان تالا والا شي
بيامې چې څوك درنه پوښتنه کوي
ته ورته وايې زه يې نه پېژنم
لامې ليدلی نه دی .

پېښور، خيبر پلازا ۹/۱/۱۹۹۲

# ډالۍ

د در دمطرب چې په تارو کړه لیندۍ ونیسي
زما دمینې دغزل توري سلګۍ ونیسي
موسکا راتله دغوټۍ شونډوته خو وتښتیده
لکه خپسه دتنکۍ پیغلې مرۍ ونیسي
د دیدنونو دا قدغن اوتصور د جانان
ملنګې سترګې مې دخیال تشې خولۍ ونیسي
ملوك او وه جوړې د اوسپنې ځپلۍ کړې زړې
خدایه چې کله به په غېږه کې بدرۍ ونیسي ؟
سپرلی به هاله وي چې راشي یو کاروان ګلونه
تا ته ډالۍ شي اوستا ول په ول کوځۍ ونیسي

پېښور، بورډ ۵/ ۵/ ۱۹۹۱

# غزل

کتاب مونه زده خو دمینې آیتونه وایو
داوښکو توري لولو ځیري گرېوانونه وایو

موږ بلبلان دگل د زېړو زېړو پاڼوله مخ
راځڅیدلي دسرو ،وینو غزلونه وایو

زموږ تندي په کاڼو وله چې کوڅه دې رنګ شي
خو دا کیدای نه شي چې کاڼوته به زړونه وایو

چې دترخې خندا په تېغ شي غوټۍ وینې وینې
داسې سروشونډوته مجبور یو پرهرونه وایو

چاوې په ځنو مـینانوته یې دارجوړکړی
موږ دارته ځنې وایو ځنوته دارونه وایو

پالي زموږدترانوورغوي څه لیدلي ؟
موږد لنډ عمر خاوندان اوږده راگونه وایو

دما زدیگر په زېړه وینه یې داستان لیکلی
دمنګوټو په ټوټو بیا دچا یادونه وایو ؟

دعشق په باب کې شوې ښکلاوې د تاووس بڼکې
د ژوند کتاب کې څه سندرې څه ویرونه وایو

دخوب کاروان مو شوکوچی کډې یې وترلې
شپه ده د سترګو سره خمار ته ځراغونه وایو

پېښور ۱/ ۱۱/۱۹۹۱

# یاره چې ګیله ونه کړې

ښکلوکیه یاره چې ګیله ونه کړې
په سپوږمۍ ټنډه مروري کړښې مه غځوه
دخپل زړګوټي په تنکۍ غوټۍ دې
دخپګانونو اوشکونو خزان مه ورروه
هو دامنم چې موده ډیره وشوه
وختونه ډیر واوښتل
چې په خوږو خوږو نغمو کې مې ستاینې نه یې
ښکلو کیه یاره چې ګیله ونه کړې
تا خو لیدلی و
هغه زما دمینې ډك زړګی
چې ستاد حسن مرغه کۍ وه په کې ځاله جوړه
چې هر وزریې وخوږو کی مضراب
هره پنجه یې وه ذمینې زخمه
چې په رګ رګ یې شرنګولې راته
زما دمینې ستا دحسن نغمې
ښکلو کیه یاره چې ګیله ونه کړې
هغه زړګی په غشو ولګیده
دصیادانو په تیرو او پولاد ینو غشو
په کې زخمی شوی خندوونکی او خوږې ترانې

لکه غزال غوندې ترې تم شو اوروتښتېدو
په غرځنو سترګو مې غزل
اوس چې له دې زرګې نه وینې څاڅې
په هریو څاڅکي کې یې پټه وې د وینو نغمه
له اسوېلیو او سلګیوسره
د ژوبلو زړونو دنیا ګې ته غریو نیولي د رومي
ښکلو کیه یاره چې ګیله ونه کړې
ستا په کټ کټ خندا مې هیره نه ده
خوکه باوردې راځي
اوس مې دزړه په غوغو غوغو تمتو
ستا دبې باکه سندریزو خندا ګانو په ځای
دچاپې شماره یتیمانو اوښکې
داني داني راځي اوشیندې په کې
اه ..... د غمجنو سرود ونو تخم
ښکلو کیه یاره چې ګیله ونه کړې
صبرکوه خدای دصابروصل دی
خوب مې لیدلی دی رښتیا به شي
داپه جنت کې دباروتو دوزخ
قسم په خدای تالاوالابه شي
موسکا به راشي دیتیم په شوندو
په ناسور زخم به دسولې پټۍ ولګیږي
زما ارم نه به دیوان دجنګو

ترکوه قافله ځي په منډو منډو
بیا به دې بنکلیه په شعرونو لمانځم
دسورکي لرلمن په نسیم دشفلو په کوټو
ستا سره پېژوان ته به حیران کړمه زیړی مازدیګر
بیا به راواخلمه کچکول د غزل
ستا په درشل به درځم مست لیوني
ته به په سترګو کې مسکۍ شي راته
هرمازدیګر به راکوې د دیدنونو خیرات
ښکلوکیه بیا خو ، به ګیله نه کوې
ځکه راغلی به وي مست پسرلی
هریوه ګل به وي په سرونکه پیاله نیولې
آن د کوثر دمیو
ته به په سروشونډو موسکی موسکی شي
ټولې پیالې به شي له کیفه او له رنګه ډکې
یوخورشمیم به په کې ولمبېږي
بیابه یې زه اوته په سرواړوو
ښکلوکیه بیا خو . به ګیله نه کوې
زه به ګل پاڼو نه د پرخې دانې
دمست قلم په ژبه وڅبیسمه
ښکلو کیه ثاته به اهدا . کړمه په مینه مینه
دمستو مستو اورنګینو غزلونو کاروان
ښکلو کیه بیاخو به ګیله نه کوې ؟

نني دنریږي کلو ۲/ ۱۱/ ۱۳٦۷

## ته .....

## ته یو شهکار وې شهکار

ته یو کتاب وې دښکلا د غزلونو کتاب
ته یو تخلیق وې دفطرت دیوه بې مثله شاعر
ته یې وې کښلی په باریکو ګوتو
دتبسم په قلم
ته یو رباب وې یو سرمسته رباب
د ژوند ګدا ته شرنګیدلی رباب
لکه ماشوم دې ووکټ کټ خندلې
دعشق په ګوتو تخنیدلی رباب
ته یورباب وې یوسرمسته رباب
ته مستانه ساقې وې
ستا په شرابو کې په جوش وو دالفت رنګونه
تا دتاك وینه نښتېڅله دصفا په ګوتو
په کې یوه ذره کینه هم نه وه
ته وې مونس دتږوزړونو او دوچو شونډو
ته یو سخې ساقې وې
اوستا شراب دشومتیا خم کې راګیرشوې نه وو
ستا میخانې لکه چینې بهیدې
چې د زاهد ورته توبې ماتیدې
اې ښایسته شهکاره

اې دغزلو یو رنګین کتابه
هره لحظه دې لولم
هرشومه دم دې هرغزل په ترنم ترنم
خونه پوهېږم نن دې هره مسره
لکه یتیم وي چا وهلی په څېرو څپېړو
راته وړې وړې سلګۍ وهي
ګیله کوي خو دمسرومرۍ ته غوټه ورشي
زما بڼو باندې دخوب دیستو ګوتو په ځای
یوځو سپرغۍ وي چې خوبونه لوټي
بانه په پام پام رپوم چې سپرغۍ ونه لوېږي
اوته پرې ونه سوځې
زماد نن دور غمجن ربابه
ولې غمجن ژاړې
ته چې په بم ژاړې په زیر ژاړې
دکوم شهید سرود په ویر ژاړې ؟
ستا د نغمو دکفن
دهریوتارپه په غېږ کې
کومه د ژوند درخو شهیده پرته ؟
پرون چې شین وې له خندانه ولې نن ژاړې ؟
ته ای ساقي د ترو زړونو ساقي
دلېونو دمحفلونو ساقي

وایه خبریې که نه ؟

ستا لېوني خواره واره دي دخمار په غرونو

ځي د تناکو په پنوکې د انګار په غرونو

یو څو هوښیارو دې جامونه مات کړل

چادې کنډول چادې خمونه مات کړل

اوچا چې ته وې غزیدلې لکه مینه په کې

هغه له مینې نه ډك زړونه مات کړل

دتاك له وینې سره ګډه شوه د زړونو وینه

ستا دمـینو وینه

ستا د ، رندانو وینه

کله به ستا له خمارو اوله ملالو سترګو

داوښکو مهر دخندا په ګوتو ونړیږي

چې بیا دامست خمارځپلي رندان

په سرجامونه د انګور واړوي

توبې توبې په سره تنور واړوي

۳/ ۲/ ۱۹۹۱ پېښور

# تبسیدلي اخترونه

پټ مې په زړګي کې یوڅو سوي غزلونه دي
وادې یې وري چاسره چې کانې نه دي زړونه دي

ګوره دبنو په ستنوخه ډېرې جنډې رپي
ړوند خونه یې څومره مې د هیلو مزارونه دي

تنده ما توي خوره نشه دمینې هم لري
اړوه په سریې که ترخه زما جامونه دي

ستا دطلسمونو پسرلی مې پیژندلی دی
څوك به داسې ووایي چې اورنه دي ګلونه دي

څه تاندې غوټۍ څومره تنکي ګلان یې وریبل
دلته هم لوونه دي اوهلته هم لوونه دي

ستا دمخ داسپین سبا به کله په کې ووینم ؟
څومره دې اوږده دتورو زلفو ماښامونه دي

خال که په تندي لګوې راشه دادې ورځې دي
تن مې په رګوکې د تودې وینې موجونه دي

کله به قدغن ماتیږي خدایه لیونی شومه
سترګې مې دیدن ته لاداوس نه کچکولونه دي

هره شپه خوبونو کې لیلا د آزادۍ راځي

ویښ چې شم هغه خړې خیمې دي هجرتونه دي

دلته دارمان په حسین غشي د یزید اوري

ژوند مې عاشورا شو تښتیدلي اخترونه دي

خدایه یو دعشق ابن اذر ورته راولیږه

جوړ د زړه کعبه کې د بتانو حکومتونه دي

مایې جنازې دنیم بسملو نغمو وړې دي

داخود کاروان یوځو ژوندې غوندې شعرونه دي

ثور ١٣٦٩

# دانتظارپه کلي

اوښکو مې مهرلګولی ددیدار په کــــلي
خدایه تېرېږم بې دیدنه د خپل یارپه کــــلي
تږی زړګی مې شو کباب کباب دمینې په اور
اوښکې مې وسوې اوپخیږي مې سرې وینې په اور
کاشکې لړمون راته ځوك وسېځي دپینې په اور
نه شته ساقي ؟ چې‌لړمې راشي دخمار په کلی
د یار په یاد مې ژوندی سترګې له خمبارنه پاتې
لکه په ګل کې مړ بورا وي له بهار نه پاتې
د ژوند رباب کې پټ سرود یم له شا تارنه پاتې
همد مه کله به راځې د انتظار په کلي
دهجر شپې مو په تیندك دي ډیوه ګی نه لرو
په اغزو زړونه ور پېیو باغ کې غوټۍ نه لرو
ناسور زخمونه ګرځو و مرهم پټۍ نه لرو
ځیځ چې ورځو یه لېونو د پرستا ر په کلي
توري لیلا ځنې دي ځنډوهه ادا دې نه زده ؟
په دې اور دوشپوکې دښکلی مخ سبا دې نه زده ؟
مجنون به وګټې دخدای په در دعا دې نه زده ؟
راځه کېږدی دعشق خوره کړو د بهار په کلي
سپرلی پټېږي دسرو وینو دالوان په کفن

هسې نه تاندې غوټۍ تا وشي دخزان په کفن
ویښ یم که خوب وینم مخ پټ دخوږ جانان په کفن
مسیحا کله به را دروځي دبیمار په کلي ؟
په شنه اسمان یې چې بوډۍ دمینې تال زنګوي
ذره ذره پکې دنور او دجمال زنګوي
سپینې کوترې یې په غېږکې پروبال زنګوي
موږه مهجورورځو د داسې یو د لدار په کلي
موږ دتنهاکو په پنو کې په اغزیو راغلو
دمرګي غېږته په ګډا او په مستیوراغلو
خندا موحق ده په کړلېچ کې دسلګیو راغلو
کاروان ته لار ورکړئ چې خورشي دسهار په کلي
دلمر په کلي د خوږ منو د کرار په کلي

۳۰/ نومبر/ ۱۹۹۰ ننې

اهداء: شهید مجروح ته

# جلوه زار

یو زړگی وي په تنګکې ، خوچې وخاندي بهـــارشي
عشق یې وداغي مجروح شي ، دلاله غوندې داغدارشي
دخزان ترخې سیلۍ کې ، قافلې دمشـکو کـوچ کړي
خوشبویي یې لاسپواشي ، چې یې پانې تارپه تـارشي
هره اوښکه یې تابلوشي ، دصـنم دګرمې میـنې
هجران هسې شان رنګین کړي ، چې وصـال به ترېـنـه زارشـي
مرګ په برګوورته ګوري ، خو جذبې خاندي حـق وايي
عشق یې نه پرېږدي قرارتـــــه ، که منصورغـــوندې په دارشـي
چې په مینه کې قربـان شي ، هغــه زړه د زړو سلـــطان شي
دتاریخ دناوې خال شي ، رنګ دوینوېې یـادګارشـي
چې فـریاد داولســونو ، دبلبل غـوندې نغمه کړي
د ژوند سازېې نیم بسمل شي ، دصیاد په غشــوښکــارشي
د زړګي یوښکلی لعل وي ، غېږېې دکه وي لـــه نورنه
دبې قدرو په لاس ورشي ، په ایروکې ورګـــوزارشي
خو دانورپه ایرونه مري ، دا بـــــه زړو نوکې بلـــېږي
که یوځای په ایروپټ شي ، په سل ځایه جلـوه زارشي
پسرلیه ! تـوکوه یې ، له زخمونو نه ګلـــونه
چې آرام روح د «مجروح» شي ، چې فردوس ورته مزارشي
چې نغمې یې په ژړا دي ، ګرم یې مه بولئ عالمه !
څوک به ولې نه ژړېږي ، چې «کاروان» بې بې سالارشي

تنهي ۱۳۶۶/۱۱/۲۳

## ای د سپېدو پر ښتې!

ای دسپېدو پر ښتی
له خو به وغځېږه
په کرشمو کرشمو وغځېږه
دشپوښادرله ګلابي بدن نه وغورځوه
دلمرزريني جامې واغونده ادا وکړه
عمرژړلوته په سرو شونډو خندا وکړه
اودسپوږمی له ميخانې نه راوړه
دمينې ترږوته د نورجامونه
پرېږده خواره چې شبې په وچوشونډو
لکه دستورو ښاځکي ښاځکي شراب
پرېږده دمينې لبونی دې هم شي مست اوخراب
ای دسپېدو پر ښتې :
اوس که پېغلوته يې خوپېغله به شې
دښکلا رازيې يوه غوټه يې چې وسپړېږې
که د چړو په ښوکو لاره وې هم
دعشق مجنون به ستا درشل ته درځي
په تورپټکي کې به ټومبې د پلوشو ګلونه
دتورو شپو په غېږکې واخله نوراني ګامونه
دمهاجرو د خېمو غېږې ته

*راوله راوله دنورقافلې*

*اودا دنور قافلې*

دیوسفي کميس په عطرو باندې ولمبوه

دلمردسترګې هار پرسپينه غاړه وځړوه

عزيزدمصرته وریاد کړه د کنعان يادونه

اوپه مهجور«پسرلي» و وروه

دخوږوصال د جنتونو ګلان

داستقلال دجنتونو ګلان

ای دسپېدو پر ښتې

له خو به وغځېږه

په کرشمو کرشمو وغځېږه

۱۳۴۹

# دپرښتې خوب

يو چمن وشين چمن و.
داسې ښکلی
لکه لرې دشيطان له وسوسونه
خوب دښکلوپرښتو
دگلونو وه ښکا لو
دمرغانو دنغمو
دوړمود قافلو
يوله بله وو تېکر
لکه ځونښه مستان
خدای راکوزکړد فردوس له ښکلې غېږې
يو ميين شينکی سحر
اوس يې ورو ورو لمبوې
په چينه دتنکې لمر
لکه ولاميې مريمه
ځوېدرنگې زمانې ته
کړې له غيبه را پيدا
يو مثال يو مسيحا
د فطرت له رنگينيو
دښکلا وو په لمن کې
يو ه پيغله په تريکو
لکه مسته غرځنۍ وه
دمړوند بنگړې يې مات وو

مستانه وه لیونۍ روه

د سپرلي په شنه سحر باندې مېنه

په چمن باندې مېنه

په مين باندې مېنه

جنتي موسکا په شونډو

او څولۍ له گلو ډکه

ته به وایې چې دشاتو یو ه مچۍ ده

په گلونو باندې گرځي

یوخوږو کې انتظارېږي

په لېموکښې په څپو دی

د گل څانگو لاندې گوري

لکه زړه چې ورته ورك وي

له خندانه تکه شنه شوه

خپله ورکه یې پیدا کړه

پسې منډې وهي ټښتي

دښکارې په شانې داهم

خپل ویشتلي ښکاررانیسي

خپل مین دلدار رانیسي

گیڼۍ زلفې یو خوا بل خوا

په اوږو زنگوي څانډي

پسرلی یې شرمنده کړ

داسې نازاو اد کاندي

خپل مين په غونچوولي

عشق دحسن او وصال په ډیوو ولي

دواړه ستړي اوستومانه

دچینې په غاړه کېني

چینه سپینه راخوټکېږي

ته به وایې دحیات چینه هم دا ده

اوبه سپینې لکه تکې سپینې اوښکې

لکه دوو خوږو مینو

له اوږده هجران نه وروسته

د وصال په شیبه ښه ډېروي ژړلي

داچینه وي د دوي اوښکو بهولې

دواړه لېچې کړي ترې ډکې

یو دیو اوبل دبل په لپه خوله ږدي

لابې غړپ هم کړی نه وي

نه چینه وي نه یې یاروي

پرهرژلي پسرلي وي

یو غمجن غوندې سهاروي

پرښته داسې خوبونه

هره شپه په خوب کې وینې

خو چې وینه شي ژړېږي

په ماینونو غوځه پښه یې

گرځیدونه نه جوړېږي

پېښور - حمل ۱۳۷۰

# څلورتوتکی

دشنه اسمان غېږې ته والوتې څلورتوتکی

تورومښوکوکې يې راوړې دګلونو پاڼې

هره ګلپاڼه وه د پرخې له سرو اوښکو ډکه

دبوډۍ ټال نه يې وزرونوکې رنګونه راوړل

اودا څلورتوتکی

ستړې شوې کېناستې دلمرپه، ونه

دنورپه څانګه کې يې وغزول

دبوډۍ ټال دهريو رنګ تارونه

په هريو تارکې يې ګلپاڼې او دپرخې اوښکې

په هنر وپېيلې

دتوتکيو دا ، وره اودا رنګينه څاله

دنورپه څانګه د زانګو په شانې وزنګيده

لکه ماشوم په کې للوللو شوه

يوه دنيا يوه رنګينه دنيا

يوه موسکايوه مالګينه موسکا

اودې څلورو توتکو د رنګينو په غېږکې

خوبونه وپرولېدل

شينکي شينکي تنکي تنکي خوبونه

ملکوتي اوجنتي خوبونه

دغه ښکلا دا ، یزداني ښکلا
د اهریمن په کرغېړنو اوبدرنګو سترګو
لکه اغزي لکه لښې لګیده
د اهریمن له خبیثه اروانه
یولوی ښامارجوړیده
په تورو وریځوکې راته اوتاویده تاویده
دلمر په ونه یې دزهرو خیته واچوله
نوراني څانګې یې کړې خچې پچې
په کې لمبل به چې ځلورو توتکیو په ناز
دشینکې خوب هغه تنکۍ تنکۍ چینې شوې وچې
دتوتکیو ځاله لولپه شوه
د ښېلتانه دسرو دونو باران ووریده
وصال وړې سلګۍ وهلې اویتیم پاتې شو
اودځلورو توتکیو داوړوکې کاروان
دمینې زړه و،دهجران په چاړه نیم پاتې شو
خدای خبردوې توتکۍ چېرته او دوې چېرته لاړې؟؟
دسبا سپینه کښتۍ
دشنه دریاب اودخواړه غوندې شمال له غېږې
وحشي توپان په تورو تورو پنجو
دتورو شپو دګردابونو غېږته ځنډوهله
خودسبا ماښو په سپینو نوراني لاسونو

دلرپه ونه دپراته ښامار په لویه خپټه
دسپینو غشوګـــو زارونه وکړل
ښامار ویشتلي فریادونه وکړل
زهریې ګډله تورو وینو سره وبهیدل
دلرله ونې نه راپرېووت تاوې غرونه ړنګ شول
خاکې نړۍ کې زلزله شوه دبوالونه ړنګ شول
دا زهرجن ښامار، دا لوی ښامار
داخبیثه او دا پلیته اروا
د اهریمن کالبوت ته ننوته
خو خدایرونه پوهېږم
زموږدښکلي سبا سپینه کښتۍ
دتورو شپوله ګردابونو راوتلې نه ده
دلرپه لویه ونه
اوس هم واړه ماران تاوونه وهي
هغه څلورتوتکې ورکې دي اوهېڅ نه راغلې
دنورپه څانګه یې رنګینه ځاله جوړه نه کړه
اې دسبا کښتۍ کې ناستو په رڼا مینو
ستاسوپه منځ کې تاسې وګورئ چې شته اوکه نه ؟
بومستانه شپونکی چې روح یې له نغمونه ډک وي
چې هرنظریې دطورغرورې له ډیوونه ډک وي
راشي دلردونې

دترهیدلي سیوري لاندې شپېلۍ وغږوې
په پاړوګړوګوتو
چې دنغمو په جادو ګروګوتو
دنورله ځانګو ماران وشو کوې
چې ورته ماتې کړې په ښکلو اوپستو کوه ګوتو
هغه ترخې هغه زهرې تناکې
ترخه ترخه زهرېې وبهوې
بیایې خوږې شپېلۍ ته هسکې غږه ونځوې
چې دلرونې ته یوسپېل دتوتکیو راشې
دنورپه هره غزیدلې ځانګه
څلور، څلور توتکۍ ځالې وکړې

پېښور ۱۳۷۰/۵/۱۵

# ازانګي

ګله دا ډېره موده
ستا د ورمو پستې وربښمينې ګوتې
مستې شي مستې شي زما په زړګي تمبل وهي
زما دروح په ګړنګو کې ازانګې خېروي
ګله په تاپسې ما
درنګ نړۍ کې دوه مين بوراګان وګرځول
خوګله تا
تا دنغمو په هغو شنو پاڼو کې مخ پټاوه
ګله تنکی وې چې تا
د بوراګانو د پستو مچکو تاب نه لاره ؟
ګله ګونګی وې چې تا
دوو بوراګانو ته دمينې يو ځواب نه لاره
تنکی به وې ګله ګونګی خونه وې
نغمه نغمه شوې اوريدای مې شوې ليدای مې نه شوې
ستا دې په خپل حسن سوګند وي چې ر ښتيا ووايه
ته چې دخپل وجودله باغه راځې
زما دخوب اغزنې دښتې ته پښې پېلې راځې ؟
اوکه مرغه غوندې بڼکې وکړې ؟
ګله صفا ووايه
ولې زما دغزل هرتوری ګلدان ګلدان شي؟
چې له تاغېږتاو وي
پېښور ۳۰/ ۱۰/ ۱۹۹۱

# دارغوان خوب

په زړه مې اور بلېږي یا د، د جانان چېرته یوسم ؟
چې په کې ونه ځوځي ، روح دارمان چېرته یوسم ؟

ښکلي نادان دي ترې امېل دغاړې نه جوړوي
وایه دانې د درومرجان چېرته یوسم ؟

مصره ! په تاکې خویوه زلیخا هم نه وینم
وروڼو شړلی دا یوسف دکنعان چېرته یوسم ؟

داسې لېمه نه شته چې رنګ یې شي اوپټ شي په کې
په وینو سور خوب ، دزخمي ارغوان چېرته یوسم ؟

ماوې چې خپور به یې په ځنو کړې دا زړه مې درجار
اوس نو رېښې رېښې سالو د الوان چېرته یوسم ؟

خپل مې ختن خپل مې ښکاریان دي او غرځې مې خپلې
له خپل ختن نه پردي غشي کمان چېرته یوسم ؟

چې مې د خیال په پسته دښته کې اغزي خواره شول
زه د وربښمینو غزلونو کاروان چېرته یوسم ؟

پېښور خیبرپلازه ۲۷/ ۱/ ۱۳۷۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پسرلي ګلپيغله

شپه دخوبونو په تال وزنګيده
لکه ماشوم چې له ژړا وروسته په خوب ويده شي
داسې چوپتيا او کراري خوره شوه
دپسرلي ګلپيغلې غلې غلې ساه واخيسته
او دمېين فطرت له غېږې ورو ورو ، وښوييده
ځان يې بربنډ دسپوږمۍ مست ابشارته وغورځاوه
له ډېر هوس نه ورته سپين ستوري اوبه اوبه شول
راغلل دوړانګو په نريو لارو
په سپينه غېږکې يې خواره واره شول
د پسرلي ګلپيغله
سليماني تخت ته بلقيسې غوندې وختله
دپرپشانو اوربلونو په غمجنه مېنه
او د داغلي لاله زار په وطن
دلمدو ځنو خو شبويې وروي
سرو غونچوکې د تاوده ژوندانه ساه پوکوي
دپاکې مينې ګنهګار وته جنت جوړوي
خواى عظيمه خدايه !
زموږ د ژوند هره لحظه درته سجده سجده شوه
خدايه که غوښې دې کړې
دجهنم دسرو اورونو ژبې
د اهريمن د طلسمونو ژبې

پېښور ۱۳۷۰/۱/٤

# قحطي

نه هنګامه دعشق سره ، نه دجمال قحطي ده
ای ښکليه ياره نوبيا ولې دوصال قحطي ده ؟
داچې يادونه يې په سرو اوښکو کې بل ساتمه
د ار ما نونو هديرې دي دمشال قحطي ده
زړه دې پيدا کړه که له زړونوسره مينه غواړې
له پښتون زړه نه خو خبرېږې چې دسوال قحطي ده
پيوند د وروځوکې خوګنې خالونه نه ځايېږي
په دې ساده ښکلې محراب کې ديو«خال» قحطي ده
ولې تندې مو اورنګانو ته سجدې لګوي؟
دا د رحمان بابا قحطي که د خوشحال قحطي ده؟
لږخو ارام دخپلو وينو په سالو کې هم شه
ناسورپرهره دمرهم او د دسمال قحطي ده
دآزادۍ باز به الوتو د پامير په څوکو
داسې ښکارېږي د وحدت د پروبال قحطي ده
کاروانه څوك دې فرياد ناورې سره اوسپين نه لرې؟
او کنه تاسره دفن او دکمال قحطي ده ؟

دتنهيو غرونه

١٣٦٨/٨/٦

ا هداء : دشهید شمس الرحمن او شهید محمد میرپاکو ار واورته .

# له وینو ترموسکا

خه مستانه شوردی غوړونه کیږدیء
چیرته مسیح په هدیرو راغی
وګوریء مړي له خندانه شنه شول
مړاوې غوټۍ په یوه سترګك دشبنم وموسیدې
له مرګ یاغي شوې دسیلۍ په غیږکې وغزیدې
ګوریء ګلونه شوې جنډې جنډې شوې وړپیدې
خومره بې باکه دا غزوپه څوکو ونڅیدې
او دپیړۍ د خزان مړي پورې وخندیدې
خه مستانه شور دی غوړونه کیږدئ
ړندې ړندې شوې دپیړ یو دکوږ ګرو سترګې
شینکی آسمان دکوه قاف په لمن وورېده
ډیرین دیو دمنارې له سره وښوییده
یو ه ژورګړنګ ته وغورځیده
هغه لاسونه یې ټوټې ټوټې شول
چې ماتولې یې دقاف دښاپیرووزرې
خه مستانه شوردی غوړونه کیږدئ
دښا پیرودڅهو بوی راځي
هلئ زموږدکلي
په هغه سترې ملوك زیری وکړئ

بدري جماله يې سلام ته راځي
څه مستانه شوردي غوړونه کېږدئ
راغلې ځپې دسندريزې خندا
هغه دي هغه ، دبتانو جنازې ووتې
چې دسحر وينې يې ښکلې هغه شپې ووتې
هغه چې تش نوم يې دښارپه مړۍ
لکه ځپسه پروت و
يوه ياغي آواز دښار له مړۍ وشو کاوه
دوخت بودۍ زړه ريتا ړه کې دغوتې په شان
دعدم تاخ ته ورو وره وغورځاوه
څه مستانه شوردي غوړونه کېږدۍ
څه دتودې موسکا تندرونه اوري
دړنو اوښکو دريا بونه وچ شول
جادولوګي شو ، طلسمونه وچ شول
جادو ځپلې سترګې وغړيدې
هلته دوينو دساحل په غاړه
د يوه نهنګ له ګنده شوې تنې
دچا په وينو لمبيدلى شال بادونو يوور
دنظر غشوته بربنډ پاتې شو
سور خونړى جهان يې شنډ پاتې شو
ژر به دخاورو په انبارکې پټ شي

څه مستانه شوردي غوړونه کېږديء
هلته پوشکين له غزليز وسترگو
دتولستوی په مينه ناکه څپره وورېده
وې يې دانبکلي اورنگين محشر له کومه راغي ؟
چې د بتانو نړۍ ونړيده
دتولستوی په شونډو
يوې خوږې موسکا بريښنونه وکړل
له نازه ډکه اشاره يې وکړه
دجنوب لورته يې اوږده او مرمرين لاسونه وغزول

۱۳۷۰/٦/۱٦ پېښور

# ددیو دقهر په ځیر، دوه لاسونه

دیوه وجود ، دوو پولادي لاسونو
غنچې غنچې ګلونه وغورځول
دهریو ګل په شوکیدلي پاڼه
دوه دوه مسین بوراګان
لکه د پرخې په څیر ، وورېدل
دا پولادي لاسونه
دګل دهرې یوې پاڼې په مخ
دڅاڅکي څاڅکي پرخې پرخې په سر
تیرې پنجې راکاږي
دهرو دوو ، دووبوراګانو ترمنځ
دبیلتون بریدجوړوي
د دیو دقهر په ځیردوه لاسونه
دتورو کاڼو خواته وغځیدل
ځولۍ یې ډکې کړې له تورو کاڼو
دښاپیرۍ په غیږکې سپینه ښیښه
په کاڼو ولې چې ذرې ، ذرې شي
چې رڼا بوره شي تیارې خورې شي
دغه ښیښه دیوه وجود او د دې دو و لاسونو
دروح له میوډکه

ثور ١٣٧١

پیښور

# باغ

په هغه شپه چې دبلوغ باغ ته ورواوښتمه
دپنځلسمې بسپوږمۍ
زما ښکالو دپلو شو په غوږو . واوریدله
له شنې کړکۍ یې لکه لور دباغوان سر راوایست
باغ یې دنور په رڼو کاڼو وویشت
سترګې مې وبرېښیدې وتمبیدم
زما تندی لکه د باغ ګلاب په وینو سور شو
یوه ګړۍ دیوې ونې لاندې ودریدم
ورپځو ورېښیمن شال دسپوږمۍ په رخسار وغوړاوه
ساړه شمال مې ماشوم درد په تال کې وزنګاوه
زړګي مې ورېځو ته یو ه دنیا دعا کوله
په یوه ترږې تلوسه بدل شوم
هرې شیبې د کال پېښې کولې
دانتظار دېوانو
دشیبو غرونه وو په لار کې ایښې
اوپه دې لاره یوه سترې قافله دوږمو
دچا دخنو خوشبویۍ باندې لړلې وه راورسیده

دتصور په ائینه کې یوه ښکلې راته ومو سیده
کړنگ شو آینه زما دخیال له لاسه وغورځیده
زه له خندانه شین شوم
یوی ښایسته ښاپیری غېږه راکړه
زما په خو ږ سترگویې وموښل تنکي لاسونه
زما نظر بدل شو
زه د گلونو په لوستلو باندې وپوهیدم
په هره پاڼه کې مې یو د یوان غزل ولیدل
بیا ښایسته ښاپیری غیږه راکړه خوله په خوله شو
ټنډه یې وموښله
زما په ټنډه پورې
زما له خوب سره اسمان ته لاړه
په سپینه ټنډه یې سور خال ځلیده
لکه زما د غزلونو اروا
لکه ښایسته دسهارونو ستوری
ځم دنغمو په سیندکې غسل کوم
او د گل کږ په غاړه
دسحر لمونځ کومه

پیښور ۶/ ۳/ ۱۳۷۱

# زموږ دکلي شنه توتیان سپینې کوترې

خدا یه ستاکومې پرښتې واخیسته ؟
په نوراني منګولو
دګلو ږموپسته وریښمینه جارو
چې یې دلرکلي اسمان جاروکړ
له تورو وریځو اوله تورو لړو
خدایه دلرکلي په شنو توتیانو
په سپینو سپینو جنتي کوترو
ته ځومره ډیرورويي
دښایستو نو باران
چې له بڼکونه یې
بوي دچندڼو راځي
چې له خبرونه یې
بوی دسندرو راځي
خدایه بخښنې مې که نه ؟
توبه توبه
دلراوبرکلي عظیمه خدایه !
له تاکومه ګیله
ستا هغه ډیرې پرښتې خدایه په کومه لاړې ؟
ته ورته غږکړه چې دبرکلي اسمان جاروکړي

په تورو وريځو کې دپیغلې سپوږمۍ ساتربته
په تورو وينو کې شوه سترگه د لمرلته پته
ته ورته غږکړه چې دبرکلي اسمان جارو کړي
زموږ دکلي شين بڼکي توتيان
کوي هرچاته دسلگو په ژبه
دخپلو ماتو وزرونوبيان
زخمي مريوکي دمستو الوتنو نغمو
دوينو زنگ نيولی
زموږ دکلي هغه سپينې اسماني کوترې
چې دسپوږمۍ په سپينه شپه يې دسوما گلونه
په پيغلو پيغلو ترانو کې ستايل
خونن د بر کلي وريښمينه فضاء
اغزي اغزي غوندي ده
د سپينو سپينو اسماني کوترو
د زړونو وينې ځبيښي
زموږ دکلي ښايسته کوترې
سپينه سپوږمۍ په خوب کې وينې اوسوما په خوب کې

پښمور ۱۳۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دیو دلاس دماتیدوسندره

زما دروح د ونې
په هغه جګه غوږګه
یوې خوږې یوې پستې سندرې
لکه د سپینې اسمانې کوترې
له زیرویم نه جوړوله ځاله
ورته راتله دښاپیرو له وطن
لکه بدرۍ جماله
په سندریز اندازکې
ته لکه دیو غشي لینده په لاس کې
ماستا دغشو شغاو اوریدله
لکه شاهین وي خوشې
په یوه کوتره پسې
غشي دې شغ شوراغي
زما سندره پسې
او د زړګي په سرمې ولګیده
زما د روح دونې
هغه اوچته غوږګه ورپیده
دزیرویم له ځالې والوته
زما سندره د کوترې غوندې

دښاپیري بدرۍ جمالې غوندی
پستنه لاړه دارم په لوري
د شهادت په وزرونو د عدم په لوري
او په ښې لاس مې پولادي غشی له زړه راوکیښ
لکه قلم زما د زړه له مشوانۍ نه ډک و
پولادي نوکه یې په وینو سره وه
په خپل ورغوي مې پرې ولیکله
دناویلې ښایستوکې اوپستې سندرې
دشهادت ویرنه
دهغه لاس دماتیدو سندره
چې غزلګرزړونه په غشو ولي
چې داروا له ونې
سپینې کوترې شړي
زما مزار ته لوحه مه جوړوۍ
زما کیڼ لاس زما دقبر لوحه
راټوکیدلې ده د زړه له تله
پرېږدئ ولاړه دې وي تل ترتله
چې لاروي مې په ورغوي لولي
د دیو د لاس دماتیدو سندره

پیښور لځیبر پلازا ۲۸/٤/۱۳۷۱

# دباران زگیروی

دا خو شپې سرېه سرد باغ په ستوني
یوه خپسه ناسته
د باغ تنکي گلونه
اغزن څروبونه ویني
باران له تري باغ نه باد په دیکه تیل وهلو
او داغزوپه څیرېبې و وارو‌ه
پانوزگیروی د باران واوریدو او وبوږنیدې
دسپیره بادله ویرې ورپیدې
بلبل دپرخې په ځای سرې سکروټې وڅبیښلې
ژبه یې گونگه شوه نغمې نه ورځي
خولا دگل کنډول یې هیرنه دی توبې نه ورځي
آه دماشوموگل غوټو په شونډو
سپېره گردونه پراته
اغزوتیونه د سپوږمۍ رودلي
په هره څوکه یې ټوټې ټوټې الماس ځلیږي
اوس په گلونو باندې ناز خرڅوي
باغ د فرعون په قبضه کښې پروت دی
اوچار چاپیر ترې د اغزیو د یو الونه تاودي
باغ ته په شنو گامونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هابنديوان پسرلی نه شي راتلای
داپسرلی هغو الماسو غیږکښي ټينګ نيولی
چي د فرعون دا غزني ږيري
په هريوتارتارکي تالونه وهي
موږ په موسی پسي ليمه شوو
که چيرته راشي يو ماشوم موسی په پالي پالو
چي د فرعون له اغزني ږيري
داني داني الماس راوشو کوي
هغه بندي پسرلی والوزي بڼکي وکړي
زموږ په باغ وزري وغوړوي

پېښور ۱۷/۱۰/۱۹۹۱

# دباروتو دوزخ

دوزخ دی دباروتو جنتونه په کې سوزي

سپرلي په کې ایره شول سره گلونه په کې سوزي

د تاندوتنکي هیلو دموسکا غوټي لمبه شوې

بس میني هدیرې شوې مشالونه په کې سوزي

عشق وسو ، لولپه شو په ښکلا اوري سکروټې

وصال په کې ستي شو هجرتونه په کې سوزي

ویشتلی دنورغشي بوډی تپال په لینده نه شي

اورونه دي لوگي دي اورنگونه په کې سوزي

په زړونو اوربلیږي خدایه چاته وژاړمه ؟

روغ څه چې لیوني ببرسرونه په کې سوزي

سور اور بلې په میخانه کې ساقي وسو ، جام بې پریووت

لاغرېږي کړی نه چې تږي زړونه په کې سوزي

ختن تالاوالاشو نه غزال شته نه عطرونه

نیپام خورې سپرغۍ کړې راکتونه په کې سوزي

داځه یزیدي ظلم دی په دغه کربلا کې

ژوندن خو عاشورا شو اخترونه په کې سوزي

اور کرښه غځولي مجنون دلته ، لیلا هلته

دیدن ته وا دسترگو کچکولونه په کې سوزي

الهي نمرودي اورونه ته گل وگلزار کړې

ته گوره د خلیل خواږه یادونه په کې سوزي

لگیږي به مرهم غوندې په سوولو زړونو

«کاروانه» خیرکه ستاهم غزلونه په کې سوزي

تنې ۱۳٦۸

## زما دسورکې اوښ فریاد

ما به په زخمي اوږه بارونــــه وړل
غاړه کې مې ښکلي امـــيلونه وړل
تل مې تګ راتګ و . کاروانــونوکې
تلمه په پیچو موکې په غرونــوکې
کله په اغزو کــــله ګــلونو کې
تګ مې نه و خوښ په مهارونوکې
ډیر وم ګرندی په قدمونـــو کې
تل مې له اوښانو میدانـــونه وړل
غاړه کې مې ښکلي امیلــونه وړل
ډیر په خطر ناکو لاروتـــللی یم
ډیر ډیر په مستۍ کې تښتیدلی یم
ډیر راغورځیدلی پر زیدلـــی یم
کله هم ګــړنګ ته ورلــویدلی یم
بیا هم په میړانه ترې ختلـــی یم
ما په مکیز غاړه بــوخ غوړونه وړل
غاړه کې مې ښکلي امیلونـــه وړل
هرڅو مې که زړه له باره ستــړی دی
زړه کې مې زرغون دمینــې زړی دی
نازمې دغریب په لیمـــو وړی دی
بې مزده مې پنځ ورتـــه راوړی دی

پوزه کې زما دالفت پــــرې دی
تل به مې ډالی اوســـاغاتونه وړل
غاړه کې مې سکلې امیـــلونـــه وړل
ډیر راسره یوبهـــیر کې تللــــي دي
تللي دي.واپس کـــله راغلــــي دي
پاس راته جازونه غوریـــدلـــي دي
خواکې مې ښونیه لگیـــدلي دي
مرگ راته په برگوډیر کتـــنـــي دي
بیا به مې هم کته او گڅلـــونـــه وړل
غاړه کې مې ښکلي امیـلونـــه وړل
تگ به مې دښپې په قافـــلو کې و
لوند به مې بدن تول په خولو کـــې و
زړه مې دځوانی په ولولــــوکې و
مل به مې کاروان په منزلـــو کې و
روح یې دشعرونو په بنگلو کـــې و
مایې د ډاگې غوندې لیکـونه وړل
غاړه کې مې ښکلي امیلـونـــه وړل
یار شومه په سختو سرو گرمیـــوکې
زورمې پاتـــې نه و . پـــه تلیو کې
ور ورو به راتلمه په غونډیـــو کې
اوښکې مې وې پنډې په ککیو کې
څه غمجن سرود مې و.گونگریو کې

وروسي دمرگ غير تـــه قدمونه وړل
غاړه کې مې ښکـــلي امـــيلونه وړل
بيا په خپلو وينوکې غـرقاب شومه
وڼدې ، وڼدې جوړپه ښه حساب شومه
ويش په هرغريب په هر جناب شومه
ورك دسخت مرگي په انقلاب شومـه
جوړټوټې ټوټې شومه كباب شومـه
خداى خبر چې چابه مې خوندونه وړل
غاړه کې مې ښکلي اميلـــونه وړل
داغ كه دكاروان په ځيـــگر خون يمه
خيال نه مې شړې وايي پښتــــون يمه
وايي كه غمجن دې په بيلتـــــون يمه
هرڅه دي له خداى پوه په قانـــون يمه
ټينگ عزم لرم كـــه په شواخـــــون يمه
زړه ته يې دصـــبر مرهمونـــــه وړل
غاړه کې مې ښکـــــــلي اميلونه وړل

وړې خيسوره دچور كوسېې دځنگل لمن

۱۳٦۸ / ٦ / ۵

PROPERTY OF ACKU 4382

(c) ketabton.com: The Digital Library

B
3.532
KAR
4382

Series No:69-70

پیرمحمد کاروان

له ماښامه ترماښامه

دشعرونو مجموعه

# LE MAKHAMA TER MAKHAMA

## FROM EVENING TO EVENING

A collection of poems

Pir Mohammad karwan

*Published by:*

*Writers Union of Free Afghanistan(WUFA)*

Copies 1000
Peshawar 1992

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**